# زړهٔ چاودې

تصنیف

عبد الغفران بیکس

خوروُنکے

انجینئر روح الامین برخوردار بیکس

# سریزه

حقیقت دادے چې د داسې یؤ لوئی شخصیت پۀ کتاب د سریزې لیکلو زۀ هرګز ځان جوګه نۀ ګڼم. پکار خو داده چې د عبدالغفران بېکس صېب مرحوم پۀ کتاب هم د هغۀ غوندې شاعر، ادیب لیکل کړے وے، خو کاش! چې مرحوم لویو ادیبانو، شاعرانو هېر کړے نۀ وے. د مرحوم مرګ د هغۀ د فن اؤ تخلیق مرګ نۀ دے. پۀ دې خبره زۀ هیڅ نۀ پوهېږم چې اخر داسې څنګ وشو چې د مرحوم خوارۀ دوستان هم د هغۀ د وفات نه پس ټول ولې غلی شول؟ ماته معلومه ده چې تر دې وخته پورې د مرحوم د نثر اؤ د نظم متعلق هیچا غور نۀ دے کړے. ایا د هغۀ د عمر دا خواری د عبث کېدو قابله ده؟.

زۀ پۀ دې لړ کښې ډېر لیکل مناسب نۀ ګڼم. فقط دومره به ووایم چې ارمان! بېکس صېب پۀ دې سیمه کښې نۀ وے اؤ چرته پۀ هغه ځائې کښې پېدا اؤ مړ وے کوم ځائې کښې چې د پښتو د ادب قدردانی وے.

د بېکس صېب مرحوم د وفات نه روستو د هغۀ د برخوردار عزیزالرحمٰن صېب دا خواهش وۀ چې زما د پلار ټول لیک دې شائع

پښتو
ورلډ ویب
ukhto.net

شي. او دا ځکه چې هغه نه غوښتل چې زما پلار دې په داسې مړ ګ
مړ شي چې هغوی نوم ئې هم پاتې نه شي. د هغه دا خواهش قابلِ قدر
دے. او د هر پښتون ځوئی هم دغسې پکار وی. تر نن پورې د هغه
دا يقين وه چې زما نه به دا بوج خامخا داسې کسان سپک کړی
کوم چې د پښتو ادب سره ځان ډېر نزدې ګڼي. لېکن د هغه دغه
خيال يو داسې خوب وه چې تعبير ئې ونه موند. او سمدستی ئې دې
د روند پنډ ته خپله سر ښکته کړو. په دې باره کښې هغه ړومبی
مشوره ما سره وکړه.
ما چې د هغه د خپل پلار او د پښتو ادب سره مينه وليده نو
بغير د دې نه چې د هغه دې حوصله افزائی وکړے شی بل هيڅ نه
شو کېدلے. په دې وجه ما هم هغه ته د خپل مناسب خدمت ډاډ
ورکړه. او زما په دې رائې هغه متفق شه چې نثر او نظم دې په يو
ځائې چاپ نه شی ځکه چې دا کار د هغه د وس نه بهر کېدو. په دې
لحاظ مونږ د مرحوم د نثر د حصې نه "افسانې" ړومبے کړې. او
انشاء الله چې د هغه په نظم به هم ډېر زر د اشاعت غور وشی. نظم
به هم په دوو حصو کښې تقسيم وی. نظم او غزل وغيره. مونږ د نثر
حصه ځکه ړومبے کړه چې په دې عامو خلقو سره تعارف وشی.
اګرچې د بېکس صيب شخصيت د تعارف محتاج نه دے. ولې بيا
هم کېدے شی چې د نظم نه علاوه د هغه نثر قابل تعريف شی. او دا
هم ضروری ده چې په دې کتاب د نور اشاعت کار اسان شی.

پښتو
pukhto.net

مونږ د لوستونکو نه هم دغه توقع ساتو چې هغوی به خپلې ژبې سره همدردی وکړی اؤ دا همدردی هر پښتون باندې لازمی ده. بلکې د تحصیل صوابی خلقو باندې ډېره ضروری ده چې هغوی د داسې شخصیت نوم ژوندے پاتې کړی.

## عبدالغفران بېکس صاحب

زۀ حېران یم چې څۀ ولیکم. کۀ د مرحوم د تعارف پۀ لړ کښې قلم له تېزی ورکؤم نو هم دا سوال راته پېدا کېږی چې ولې مرحوم یؤ گمنام سړے وۀ چې د تعارف محتاج دے. خو، نه! داسې نۀ ده. د مرحوم شخصیت یؤ ښکاره شخصیت ؤ. اؤ د هغۀ د قابلیت اندازه د هغۀ د لیک نه لګی. کومو حضراتو چې د مرحوم لیک لیدلے کتلے وی هغوی به خامخا قائل وی. زۀ پۀ تعارفی سلسله کښې پۀ دې بحث نۀ کؤم چې بېکس صېب د کومې پائې ادیب شاعر وۀ. ځکه چې ددغه څیز زۀ ضرورت نۀ محسوسؤم. البته دا ښکاره کؤل ضروری دی چې دے د کوم ځائې وۀ اؤ څوک وۀ. نو دا به پۀ کتاب د څۀ لیکلو ځائې هم برابر کړی اؤ زما غاړه به هم خلاصه شی. ځکه چې کۀ یؤ طرفته د مرحوم د برخوردار عزیزالرحمٰن د مینې قدر کؤم نو بل طرفته پۀ ما هم د مرحوم ډېر حق دے. اؤ هغه داسې چې زما پۀ سکول کښې استاذ وۀ اؤ کله چې زما د شعروشاعری نه خبر شو نو زما د شعر اصلاح ئې پۀ ډېره مینه کؤله. اؤ کله ناکله به ئې داسې



پښتو
pukhto.net

داد راکړو چې زما حوصله افزائی به ئې وکړه. ددې نه علاوه چې کومه مینه د هغوی ما سره وه د هغې اندازه نۀ شم لګولے. دغه وجه ده چې د هغوی پۀ باره کښې څۀ الفاظ لیکل خپله ذمه واری ګنړم. خو کاش! چې هغسې لیک ما کولے شوے چې د هغۀ د شان مطابق دے!

**پیدائشی مقام:**

د مرحوم ابائی اجدائی کلے ډاګی، تحصیل صوابی، ضلع صوابی دے اؤ هم پۀ دې کلی کښې هغوی دې فانی جهان ته راغلی وو. د هغوی سن پېدائش تقریباً ۱۹۲۲ء[۱] دے. پۀ مرحوم تعلیمی سلسله د هغوی والد صاحب چې الحمدلله اوس هم ژوندے دے[۲] ډېر زر شروع کړه. ځکه چې د بېکس صیب والد صاحب هم تعلیمیافته وۀ. د مرحوم د تعلیم سلسلې ډېره زر ترقی وکړه خو افسوس چې د لسم جماعت په دوران کښې پۀ هغوی داسې بیماری حمله وکړه چې اخرکار هم ددغې بیماری پۀ وجه دارالبقا ته رخصت شو. لېکن سره د ډېر لوئی مرض هغوی د تعلیم سلسله پرې نۀ ښوده. اؤ ایم. اے. ډی. ئې هم وکړو.

[۱] دا کال د قلم خاوندان نه ولیکلے شو.
[۲] په حق رسېدلې دے.



پښتو ورلډ ټیم
pukhto.net

د مرحوم تول وخت د بچو په خدمت کښې د استاذی په شکل سکولونو کښې تېر شوے دے. او زمونږ په کلی یارحسن کښې مرحوم دغه خدمت په ډېر وخت او په زیات محنت کړے دے. چې اوس هم وارۀ او زارۀ ئې په تعریف نه مړیږی.
دغه رنګ چې کوم ځائې د هغوی بدلی شوې وه هغه خلق د مرحوم د قابلیت او بې لوث خدمت نه ډېر متاثر شوی دی.

**پېشه:**

د مرحوم ابائی اجدائی پېشه زمینداری وه. د دوئ د خاندان اکثر خلق تعلیم یافته دی. هم دغه وجه ده چې ښکس صېب باندې د تعلیم اثر وۀ. اګرچې د زمیندارۍ په کاروبار د دوئ ښه ګذاره کېږی او کېده، لېکن مرحوم په قوم هم مئین وۀ. او هغوی دا غوښتله چې پښتون قام دې د نورو ترقی یافته قامونو سره اوږه په اوږه شی. په دې لحاظ هغوئ د بچو خدمت خپل فرض ګڼل.

**عُمر:**

د مرحوم عمر تقریباً 46 کاله وۀ. د قد قامت په لحاظ ډېر برابر یعنې نۀ ډېر دنګ او نۀ ډېر چیت ؤ. او د ډېرې بیمارۍ په وجه

[1] ښکس د ۴۲ کالو په عمر کښې وفات شوے دے.

پښتو
ورلډ ویب
ukhto.net

د بدن نه ډېر سپک وۀ. اؤ د جوثې رنګ ئې توروالی ته مائل شوے وۀ.

**خونی:**

د مرحوم اکثر وخت به پخپله خاموشۍ کښې تېرېدۀ. خبرې به ئې ډېرې کمې کؤلې. د ضرورت خبرې به ئې پۀ ډېر لنډ وخت کښې ترسره کړې. د هغۀ خندا پۀ هيڅ وخت کښې پۀ برق برق نۀ ده شوې. کۀ ډېره د خندا خبره به وشوه نو مُسکے به شۀ. دغه شان د هغوی پۀ لارې تلل اؤ کتل هم ډېر عجيبه وو. پۀ لارې به ئې ښکته کتل. اؤ داسې به روان وۀ چې زما پۀ خيال مېږے به ئې هم د قدم د لاندې ژوند ے پاتې کېدۀ.

**شعروشاعری:**

د ورکوټوالی نه د مرحوم د پښتو ادب سره شوق اؤ مينه وه. اوس هم د هغوی پۀ زور ليک کښې د ورکوټوالی اشعار شته دے. ما چې هغه کتلی دی نو حېران شوے يم. يؤ پۀ دې چې ډېر محفوظ دی اؤ بل پۀ دې چې دغه اشعار ئې هم پۀ ډېره اعلیٰ پېمانه صحيح دی. داسې معلومېږی لکه چې دا هم د پوخ عمر اشعار دی. کۀ فرق دے نو بس دومره چې د رسم الخط د کچوالی اؤ د اشعارو د بې ترتيبۍ.

پښتو
ورلډ بک
pukhto.net

اوس چې کله د مرحوم نظمونه په اخباراتو او رسالو کښې شائع شوی دی نو د هغې په باب څۀ ولیکم. د هغۀ د شاعرۍ مثال څۀ سره ورکړم. د هغۀ نسبت چا سره قائم کړم. خو دا به وئیل نامناسب نۀ وی چې په نظم کښې د هغۀ پشان مهارت موجوده وخت کښې ډېر کم دے. او دا اندازه هله کېږی چې د هغۀ مجموعه وکتے شی.

په نظم کښې د مرحوم تخیل ډېر ناآشنا دے. او داسې ژور دے چې ډېر کم خلق پرې پوهېږی. په نظمونو کښې د هر قسم نظمونه شته دے. که د عشق په باب د بېکس صېب قلم روان شوے دے نو په داسې انداز کښې پرواز کوی چې هلته د هر چا تګ ممکن نۀ دے.

دغه رنګ په هر پهلو د باریکۍ او نازک خیالۍ، ژورتیا ډېر بې مثاله د هغۀ د فن زور او قوت موندے شی. دغه رنګ په غزلو کښې د درد، مینې، د عشق د سوزوساز رنګارنګ څرېکې او فلسفه شته دے.

**موجوده افسانې:**

لکه چې څۀ رنګ ما وړاندې وضاحت کړے دے چې دا افسانې (*ستاسو په لاس کښې*) مونږ صرف د مرحوم په تعارفی سلسله کښې چاپ کوو، ځکه چې د مرحوم اصل فن نظم وۀ، او هغۀ په ډېر انداز کښې موجود دے. انشاء الله د دې نه پس به د هغې نمبر وی. اوس په دې افسانو د څۀ لیکلو مقصد دا نۀ دے چې زۀ



پښتو ورلډ ویب
pukhto.net

دي د ضرورت نه زيات صفت وکړم. حقيقت دا دے چې د مرحوم نثر ډېر کم دے او دا ځکه چې د هغۀ زيات شوق نظم سره وۀ. پۀ دې وجه نثر ډېر کم دے. ولې دا هم يوه ضروري خبره ده چې پۀ نثر کښې د هغۀ هغسې مهارت شته کوم چې ئې پۀ نظم کښې موندے شي.

ددې څو افسانو د کتو نه پس سړے پۀ دې پوهېدے شي چې د بېکس صېب مقام پۀ نثر کښې کوم وۀ. ددې ټولو افسانو سرسري کتل خو ډېر اسان دي لېکن ددې پۀ اصل مقصد ځان پوهول وخت غواړي. حقه خبره داده چې مرحوم پۀ دې افسانو کښې کوم طرز اختيار کړے دے هغه ډېر نااشنا او قابلِ تعريف دے. دا نۀ وايم چې پۀ پښتو کښې افسانې هډو وې نۀ، يا وې خو د هغې څۀ مقصد نۀ وۀ. لېکن چې پۀ دې کښې کوم مقصد پۀ کوم طرز ښکاره شوے دے هغه صفت يقيناً د ډېرو کمو اديبانو پۀ افسانو کښې موندے شي.

پۀ دې افسانو کښې د معاشرې پۀ هر اړخ باندې يو اصلاحي او موزون انداز بيان اختيار کړے شوے دے. کۀ يو طرف ته پکښې د مينې او عشق درد چېړلے شوے دے نو بل خوا پکښې د موجوده معاشرې پۀ ماحول سخت تنقيد هم راغلے دے. او دا د اديب دپاره ضروري دي چې هغه د افسانې پۀ مرکزي مقصد باندې د خپل قلم زور وکړي. ځکه چې هم دغه د ليک اصل مدعا ده چې لوستونکي صرف د کتو نه داسې متاثره کړي لکه چې دا واقعات د دوی د سترګو د وړاندې تېر شول. ددې افسانو پۀ يوه يوه او ورسره پۀ هر اړخ باندې تبصره کول ډېر ګران دي خو لنډه خبره داده چې دا افسانې د کتو نه پس خپل مقام پخپله ښکاره کوي.



پښتو
ورلډ
pukhto.net

زۀ دا منم چې د پښتو د هر لوئی لیکوال شته د ے اؤ د هغوی لیک موجود د ے. خو د محترم عبدالغفران بېکس صیب مرحوم مقام هم ددې پۀ رڼا کښې یؤ ښکاره مثال د ے. د هغوی لیک نثر اؤ نظم د مرحوم پۀ لوړ شخصیت باندې دال دی. کۀ چرې سړے د فکر اؤ سوچ نه کار واخلی نو یقیناً پۀ دې پوهېدل ګران نۀ دی چې د مرحوم د پښتو پۀ ادب کښې څۀ حېثیت وۀ.

زۀ دا خبره هم دلته ختمؤم چې مرحوم د څۀ مقام څښتن وۀ. ځکه چې د نمر د رڼا صفت خپله د نمر د روښانتیا نه څرګند وی. اوس د مرحوم سره د مینې اؤ پښتو ادب سره تعلق صرف دا د ے چې مونږ د هغوی د لیک اصل قدر وکړو اؤ هغه داسې چې پۀ دې سلسله کښې څومره کېد ے شی مونږ عملی تعاون وکړو. دا به د خپلې ژبې خدمت وی اؤ مرحوم سره د مینې ښکاره نخښه.

کۀ چرې پۀ پښتو مئینو ځملو اؤ زړو پۀ دې معامله کښې د مرحوم د برخوردار حوصله افزائی وکړه نو انشاء الله د هر زر به هغه ټول مواد د مرحوم شائع شی کوم چې د هغوی د عمرونو خواری وه.

زۀ اُمېد ساتم چې خامخا به زمونږ روڼه دا کتاب واخلی اؤ نورو ته به ترغیب ورکړی چې د مرحوم نوم ژوند ے پاتې شی.

نور بس

**فیروزشاه صابر**

یارحسېن یکم مئ ۱۹۷۱ء

پښتو
ورځ نوې
Pukhto.net

# د چرګ هډوکی

د نور کله پشان نن هم زۀ پۀ مازیګری کښې د سیند غاړې ته تلے ووم. زما د تولې ورځې سترې زړۀ اؤ مغزو به دا غوښتل چې د لږ ساعت دپاره د دُنیا د شوروشر اؤ د فکرونو نه په ډډه شی. ددې منشا د حاصلؤلو صرف یوه طریقه ده. اؤ هغه دا چې د سیند پۀ غاړه به زما د سیل دپاره پۀ مازیګری کښې لږ یا ډیر وخت خامخا وۀ. نو:

نمر زیړے وۀ. یعنې د نمر جنازه د اُفق په اوږو پرته وه اؤ د شفق رنګین کفن پرې دپاسه غوړیدلے وۀ. د نظر حد کښې چارچاپیره لوړې لوړې وریځې داسې ښکاریدې لکه چې د وریځې قافله د نامعلوم وطن پۀ لور روانه وی. اؤ د اوبو شړهار وۀ. تا به وے چې ددې قافلې جرس هم دادے. د اوبو پۀ ائینه کښې ددې منظر عکس خامخا د توجه لمن د کشش پۀ لاسو راښکه.

معلومه نۀ وه چې څومره ساعت زۀ پۀ دې قدرتی تماشه کښې مشغول وم چې ناڅاپه د یو اشنا اواز پۀ غږ زما د خیال جادو مات شۀ. د فکر لطیف تار مې د مادی جوټې د تصور پۀ تیغ وشلیدۀ اؤ اواز د غلې فضا په اوږو سور زما تر غوږه راورسیده.



pukhto.net

"لالا! وړاندې مې د ريسې راوړے دے" دا اواز زما د کشر رور سعيد وۀ. چې روستو مې وکتل نو ددۀ خنده رويه څېره مې تر نظره شوه. ټول خيالات مې لکه د خيال پۀ ځائې پرېښوُل. جامې مې وځنډلې اؤ ومې وې:

"خېر دې وی روره"

هغۀ ووې:

"خېر دے، دوست محمد بابا راغلے دے. زۀ ئې تا پسې رالېږلے يم."

د دوست محمد بابا نوم زما دپاره نوے نۀ وۀ. ولې دې وخت کښې د هغۀ د ليدو شوق زما زړۀ داسې سکونډل شروع کړل چې بيان ئې نۀ شی کېدے. دا ځکه چې دوست محمد بابا زمونږ د باباجی زوړ دوست وۀ. بابا به پۀ خپل ژوندانۀ د هغۀ د ښۀ والی رنګ رنګ خبرې کوُلې. ما پۀ وړوکوالی ليدلے وۀ. خو د شلو کالو رنګ رنګ واقعاتو د ايرو د لاندې د هغۀ د ياد بوسرکی پټ شی وو. اوس په داسې بې طمع وخت کښې مې د هغۀ د راتلو خبر واورېده نو دوه پښې مې خپلې کړې اؤ دوه پردی. د خواهش پۀ اس سور روان شوم. پۀ لاره مې د هغۀ د څېرې رنګ رنګ نقشې د ذهن په ائينه کښې قائمولې. اؤ دې سره به د باباجی بزرګانه څېره هم زما د نظر په پړدو کښې ګرځېده.

پښتو
ورلډ ويب
Pukhto.net

خبر ....!! د خوشحالۍ اؤ د غم ګډوډ احساس پۀ جوش کښې چې خپلې دېرې ته راورسېدم نو تیارې د دُنیا د راګېرؤلو دپاره خپله لمن خوره کړې وه. حجره کښې ډېر خلق اشنا اؤ ناشنا هم ډېر موجود وو. لۀ دې چې سعید لۀ ورایه د دوست محمد بابا پېژندګلو ما سره پېدا کړه. رسمي ګړه بړه مې نورو مېلمنو سره وکړه اؤ دوست محمد بابا سره بې ارادې تر غاړه وتم.

دغه وخت کښې ما وے چې د خپل باباجي په غېږ کښې یم. اؤ ددغه جذبې د اثر لاندې زما په سترګو کښې د اوښکو یؤ دوه څاڅکي هم راغلل. خو تیاره ئې پرده شوه...

کښېناستو. خبرې اترې مو کولې. د وخت کاروان د ماسخوتن پړاؤ ته ورسېد. پۀ دې کښې سعید ووې چې ډوډۍ تیاره ده. کټونه مو جُخت کړل. کټګے اؤ غلېبل مو کېښودۀ اؤ ټول ډوډۍ ته کښېناستو. سعید لوټه اؤ ګیلاس په لاس ولاړ وۀ. چې د هډوکو ویشلو وخت راغے نو ما رکېبۍ دوست محمد بابا ته وړاندې کړه اؤ ومې وئیل:

"بابا ستا انصاف..."

بابا چې هډوکو ته وکتل نو پۀ څېره ئې ناڅاپه تغیر پېدا شۀ. د شونډو د لاندې ئې اسویلے وکړو اؤ د ډیوې رڼا د هغۀ په سترګو کښې د اوښکو د موجودګۍ چُغلي وکړه. څۀ درنګ پس ئې ووې:

پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

"بچیه! دا انصاف زما په تا پېرزو دے"

ما دویمه خبره کوَل مناسب ونهٔ ګڼل او ویش مې راواخیست. چې دوست محمد بابا له مې هډوکے ورکهٔ نو په دې کښې یوٰ ماشوم لوبې پرېښودې او زمونږ خوا ته راغے. نو زما د حیرت حد پاتې نهٔ شهٔ. هرکله چې د بابا په اسویلو او په اوښکو نور مېلمانهٔ هم خبر شول. هغه ماشوم ئې جولۍ کښې کښېناؤ او هډوکے ئې ورله ورکهٔ. او عجیبه دا چې دغه وخت بابا دومره خوشحاله معلومېدهٔ چې تا به وے د ټول جهان خوشحالي ئې بیاموندہ. خو چې ماشوم ئې د جولۍ نه کوز شهٔ نو څېره ئې بیا د زړهٔ د پټ غم ائینه شوه. په دې کښې ئې د ماسخوتن بانګ ووې او مونږ ټول مانځهٔ له لاړو. ولې زما د زړهٔ په سمندر کښې دې فکر موجونه وهل چې دې وړه خبره کښې څهٔ غټه واقعه ضرور معلومېږی او بابا ئې د زړهٔ په رنځ اخته کړے دے. خو دا واقعه څهٔ کېدے شي.

ددې سوال د جواب موندو خواهش په ما دومره غلبه وکړه چې د مانځهٔ نه پس حجرې ته راغلو نو زما ړومبے تپوس دا وهٔ چې:

"باباجی! د چرګ هډوکی کښې کوم داسې پټ اثر وهٔ چې ستا د پرېشانۍ او خفګان سبب شهٔ؟"

پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

دا سوال څۀ وۀ، تا به وئيلې د احساس د رباب تار مې وچېړۀ. اؤ د اوښکو د چينې بند مې مات کۀ. يؤ پټ زخم مې پۀ نشتر وواهۀ.

د بابا حالت د مخکښې نه زيات خراب شۀ. اؤ زۀ پۀ خپل تپوس پښېمانه شوم. ولې لږ ساعت پس چې هغه لږ پۀ ساه شۀ نو ؤې وے:

"بچيه! دا زما د ژوند يؤ غمناک رنځ دے. يؤ پټ درد دے چې زما د زړۀ ملګرے دے. دا مۀ اوره"

ما ووے:

"بابا کۀ خدائے کړی چې زۀ پۀ دې غم کښې تا سره امداد وکړے شم نو بدی پکښې څۀ ده؟"

هغۀ ووے:

"پچنګړه! دا هغه بوج نۀ دے چې پۀ تقسيم کمېږی. اؤ دا هغه زخم نۀ دے چې د تسلی پۀ مرهم رغېږی. خو ښه ده چې تۀ وائې نو واؤره...."

د حجرې کشران غلی شو. بابا يؤ دوه ځلې ؤتوخېدۀ اؤ وئې ووے:

"بچيه د خپل نوم اؤ د خپل کلی د ښودلو ضرورت نۀ ګنم. نو... ستا د باباجی پشان زما نور هم ډېر دوستان وو. خدائے راله طبيعت داسې راکړے وۀ چې د دوستانو پۀ ملاقات اؤ خدمت



پښتو ورلډ pukhto.net

کښې به راته روحاني خوشحالي حاصلېده. اکثر به مې وے چې که زما د څرمنې نه زما دوستان پڼې جوړې کړي نو د هر چیغ په ځائے به ترې د شکر اواز وځي. زۀ خپله لوئي کوُل نۀ غواړم. هغه وخت تېر دے خو د لېونتوب د زمانې یوۀ یاد تراوسه پاتې دے. چې لکه د جَورې ئې زما د ژوند په رګ انښتے وي اؤ د خوشحالۍ وینه پکښې نۀ پرېږدي.

هن! نو یوه ورځ زما یوۀ خوږ دوست راغے. ورسره یوۀ څو کسان نور وو. ما ورله چرګ حلال که، ډوډۍ پخه شوه. زما کور ته د تلو نه مخکښې زما ماشوم ځوئي نورګل مور سره جګړه کړې وه چې "ماله هډوکے راکړه".

نورګل زما یوۀ ځوئي وۀ نو هغۀ د موره هډوکے وغوښتۀ خو د ماشوم د فطرت مطابق هغه پۀ یوۀ دوه سره رضا نۀ شو. مور ئې ورته ووې چې د بابا مېلمانۀ دي دی کۀ هډوکی کم شو نو پۀ توپک به دې وولي. دا خبره هغه وخت د هغۀ د یرۀلو لپاره شوې وه. څوک خبر وو چې دا د راتلونکو واقعاتو استازے دے اؤ د کاڼي کرښه ده.

زۀ کور ته لاړم. ډوډۍ مې مېلمنو ته وویسته. پۀ خندا خوشحالۍ ډوډۍ وخوړے شوه. ولې ددې خوشحالۍ د پردې شاته د غم هیبت ناک دیو ګورے چې د کوم وخت د بدل اخستو بند تاړۀ. صلاح پۀ دې وشوه چې د ایلو ښکار له ځو. توپک مې



پښتو ورډ بېنک
Pukhto.net

راواخست. پکښې سحره راسې کارتوس ښښتے وۀ. ما پرې باندې خپل وس کړے وۀ خو د مېلمنو پۀ وجه مې په ځائے پرېښودے وۀ. اوس مې بيا راواخست. تېر مې راته د نورګل قصه کؤله اؤ ما ټوپک سموؤ. اؤ دواړه مُسکى مُسکى کېدو. پۀ ټوپک مې خپله وکړه اؤ سم نۀ شۀ. يؤ دوه ځلې مې هوائى وچلوؤ خو بې فائدې. پۀ دې کښې نورګل لوبې کؤلې راغے. تاسو به ئې پۀ ګرانه ومنئ چې ځۀ وخت ما د ټوپک شپېلۍ د نااُمېدۍ پۀ حالت کښې د پورته نه ښکته کؤله نو ډز شۀ. زۀ حېران شوم ولې دا حېرانتيا زر تر زره د غم پۀ پنجه کښې ګېره شوه. هرکله چې نورګل مې پۀ خاورو اؤ وينو کښې ککړ وليدۀ نو دا چغه مې واؤرېده چې "باباجى بيا به هډو کے نۀ غواړم"

اُف!!! هغه وخت"

د بابا اواز ډډ شۀ. مرۍ ئې ونښته. بيا وټوخېدۀ اؤ وې وے:

"آه! نورګل لکه د ورکوټې مرغۍ زما د وړاندې لټې وټکؤلې. افسوس! زۀ پۀ سترګو ړوند وے چې دا حال مې نۀ ليدے. پۀ غوږو کوڼ وے چې دا چغه مې نۀ اورېدے.

اُف، زۀ! زۀ ډېر ظالم يم. ډېر سخت زړے يم چې لا تراوسه پايم".



پښتو
pukhto.net

بابا يؤ ساعت غلے شۀ. داسې معلومېده چې پۀ ګرمو اسوېلو د زړۀ زخمونو له ټکور ورکوی. د حجرې پۀ کشرانو د مړو غونډې چپ والې وۀ. اخر بابا ووې:

"نو بچيه! دا وۀ زما د بدبختئ ړومبے تصوير. دا خو وشوه. خو زما نه د دُنيا کاروبار بالکل پاتې شۀ. هر وخت مې پـه غوږونو کښې دا اواز تېرېدو چې "باباجی بيا به هډوکے نۀ غواړم" اؤ لکه د دوک به مې پۀ زړۀ کښې غړېدو. لېونے غونډې شوم. اخر د زمانې پېر راته د قصمت د تصوير تيارۀ اړخ پۀ شان سره وښودۀ. يعنې د غريبئ پۀ پنجه کښې راګېر شوم.

ټېر مې د څوئی د غمه د قبر پۀ غېږ کښې پۀ خوارۀ خوب اودۀ شو. اؤ زۀ ئې د غمونو ناتار ته يوازې پاتې شوم.

يوه ورځ پۀ دغه حالت کښې د هغه اشنا پۀ دېره پېښ شوم چې د چا پۀ خاطر مې د ژوند همسا ماته کړې وه. هغه نۀ صرف زما د پېژندګلو نه منکر شۀ بلکې پۀ غل، ټګ اؤ بدمعاش اؤ خدائې خبر دے چې پۀ څومره نومونو ئې وستائيلم. "اه! درغلې زمانې"

د هغـه وخـت نـه مـې کـورکلے، ارت، ډينګری هـر څۀ پرېښودل. هندوستان ته لاړم. قسمت داسې کړل چې نن دريمه ورځ ده چې د وطن باد راباندې لګی. خو زۀ پوهه يم چې خاوره مې ددې ځائې ده نو هډوکی اؤ دغه ماشوم زما په زړو زخم مالګه ودوړوله. آه...!!!"

پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

ددې نه پس بابا غلے شۀ. اؤ پۀ مخ ئې د سترګو د چینو نه یؤ دوه ولې رارواني شوې. ټوله شپه مې د بابا د غم پۀ حقله فکرونه کؤل. نۀ پوهېږم چې څۀ وخت اودۀ شوے یم. خو سحر وختی پاڅېدم نو د بابا کټ تش پروت وۀ. اؤ د سیند د طرفه دا اواز راتۀ:

اشنا قبلې طرف ته مخ که
زۀ پۀ دنیا د بې شرمۍ اوربشې خورمه

یوه نامعلومه وېره مې پۀ زړۀ کښې راپېدا شوه. وزپسې لاړم. د بېرته نه مې دوست محمد بابا د سیند پۀ غاړه ولیدۀ. نو زما د رسېدو نه مخکښې د غړم اواز مې واورېدۀ. چې ورغلم نو دوست محمد بابا نۀ وۀ اؤ د سیند چپې غلې رواني وې.

دُنیا د غم پۀ ورځ پېدا ده
زۀ به د غم توښه کؤم ژوندے به یمه

پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

# تقدیر

د غلو د سالار غلې څېره د هغهٔ د پرېشانۍ اؤ پټو غمونو د لوبغاړو د لوبو مېدان وهٔ. پهٔ کوټه کښې ګرځېدهٔ راګرځېدهٔ اؤ په رپېدونکو شونډو ئې دا الفاظ وو چې د مات ساز د نغمو پشان پهٔ هوا کښې خوارهٔ وو.

"اے نجومیانو پهٔ دې دُنیا کښې د کایناتو رڼا شته چې زما د بوډاتوب همسا به زما د خپله لاسه ماتېږي. زما د ژوند د بوټي ګل به زما د لاسه رېژي"

دا لاس ددې کار نه مخکښې مات ښهٔ دی. دا سترګې ددې واقعاتو د لیدو نه ړومبیه ړندې ښې دی. اؤ دا غوږونه ددې اواز د اؤرېدو نه مخکښې کاڼهٔ ښهٔ دي.

خېر.... اول خو دا هسې د "دائي" خبره دهٔ خو بیا هم د نجومیانو د خُلې شرط پوره کؤل دومره ګران کار نهٔ دے. ښه ده زهٔ اوس د تقدیر دې بې اعتباره سېلاب ته د تدبیر بند تړم"

د سالار سر ناڅاپه اوچت شهٔ اؤ یؤ د رعب نه ډک اواز واؤرېدے شهٔ.



پښتو
pukhto.net

"هلکه شیریه! دلته راشه" ددې جواب د بل اړخ نه د "جی حضور" په دود راغے. او یوه لحظه پس شیرے نوکر د سالار مخې ته په ادب سره ولاړ وه.

"لاړ شه مراد راوله" سالار ووے.

شیری ووے "ښه صاحبه" او لږ ساعت پس ئې د دوؤ کالو یؤ ماشوم راوست.

سالار تربنه دا هلک واخست او شیری ته ئې ووے چې، "ته لاړ شه نائب سالار نوشاد راولېږه". د شیری د تلو نه پس سالار تر ډېر وخته دا ماشوم په سر سترګو ښکلؤلو چې په دې کښې یؤ برېتو سړی دروازه کښې ووے "اجازت دے؟"

سالار ناڅاپه د خپل خیاله ولتېدو. لکه څوک چې خوب کښې اوبو ګنېږی. او وې وے:

"نوشاده راځه"

نوشاد غلے غوندې مخکښې ودرېدو.

سالار بیا ووے "ګوره نوشاده تر نن ورځې ته زما نائب او ملګرے پاتې شوے ئې. تا سره زما ډېر اُمېدونه دی. زما د تمنا ګلونه ستا د اخلاص او نېک نیتی په چپو غوړېږی... او تر ډېره وخته ددغه وږمو اُمېدوار دی. اے زمونږ د مینې ائینې تاته د شک شبې په ښیری د خیرینېدو وېره خو نیشته؟"



پښتو
وړاندې
Pukhto.net

"ستاسو غلام تر ډېره عمره د خدمت نه غاړه نۀ غړوی"

نوشاد ووې.

"تاته یاد دی" سالار ووې، چې "د مراد پۀ حقله نجومیانو څۀ وئیلی وو. یعنې دا چې مراد به... د خپل پلار د لاسه د فنا پۀ لور رخصتېږی. اؤ د هغې علاج ئې دا ښودلے ؤ چې د شهباز ځوئی چې ددۀ همزولے دے، دۀ سره دې یؤ ځائې لوئی کړے شی نو د دوئ د مینې پۀ غمی به د تقدیر جادو مات شی."

"ښۀ مې یاد دی" نوشاد ووې.

سالار ووې "اول خو دا خبره د حقیقت نه ډېره بېرته معلومېږی خو د څو ورځو راسې زما زړۀ کښې یؤ نامعلومه وېره ده. چې د غم پۀ پنجو زما زړۀ سکونډی. نو زۀ دا غواړم چې د شهباز... ځوئی دې نن راوستے شی. خو داسې چې نۀ پرې شهباز خبر شی اؤ نۀ بل څوک. ځکه چې شهباز زمونږ د ملګرتیا د پرېښودو پۀ خیال کښې دے. نو هغه به هیچرې خپل ځوئی پۀ رضا رانۀ کړی. اؤ زۀ د خپل ژوند پۀ لمن د ناجائزه خون داغ پۀ ړومبی ځل لګول نۀ غواړم..... دوئی دواړه زۀ نن ماښام یؤ ځائې غواړم. تا واؤرېدل؟"

د نوشاد څټ څۀ قدرې د ادب د پاره ښکته شۀ اؤ د رخصتی سلام ئې وکړو.

........



پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

دوه ماشومان په یوه پټه تاخانه کښې لوئېدل. د هغوی د خدمت د پاره یو اعتباری سړے هر وخت موجود وو. چې ددې نیمه خوا دُنیا د درده ئې دوئ څۀ قدرې بې خبره ساتل. دوه پاک زړونه د بې غرضه مینې په ځانګو کښې ځانګېدل. دا دوه ماشومان څوک وو؟

یو د سالار ځوئ مراد او بل د شهباز ځوئې. سالار به په دویمه درېمه ورځ تپوس له تۀ.

شهباز به خفه خفه معلومېدۀ خو په یو خیال به ئې زړۀ له تسلی ورکوله. او ددې خیال په حقیقت د هغۀ ډېر یقین وو. هغۀ د نجومیانو د خبرو نه څۀ ګنګوسه اورېدلې وه. کله کله به د هغۀ د غمژنې خبرې په پرده کښې د اُمېد رڼا وځلېده. بالکل داسې لکه توره ورېځ کښې د اسمان برېښنا نه وی. لکه د خزان زېړلو پاڼو په غېږ کښې نیم تازه د ګل پاڼه.

یو سحر وختی چې د سالار زړۀ د خوشحالئ او ارام نه ښۀ ډک وو او خپره ئې ددغه جذباتو ائینه وه، یو استازے راغے چې د هغۀ خبر د سالار د خوشحالئ په درمن اور پورې وو. او دا اور د هغۀ د زړۀ په خونه ولګېدۀ. خبر دا وو چې...

"مراد ورک دے"

د سالار زړۀ تک وچاودۀ. او د خوشحالئ په وجود ئې مېکتون حواله شۀ. د غلو د ډلې هر سړے سر وهلے بر وهلے



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

ګرځېدۀ. د سالار د غم بوسرکې هر خوا خوارۀ وو. اؤ ډېر زړونه پرې کباب شول. خو ددې کوششونو نتيجه صرف يوه وخته... يعنې ناکافی.

خو د يؤ سړی زړۀ ډاډه وۀ. اؤ دا سړے شهباز وۀ. د ځوئی ورکېدو سوے داغ د سالار پۀ زړۀ شۀ اؤ غم ئې د ژوند ملګرے مستقبل د حال خزانه ورو ورو ماضی ته وسپارله.

..............

آخر هغه وخت راغلے چې شهباز لۀ دُنيا د سفر نيت وتاړۀ. د ناجوړتيا نه ډېره موده مخکښې هغۀ د خپل کاره توبه ايستلې وه. اؤ نن پۀ خپل کور کښې هغه د مرګ پۀ پوزی پروت وۀ. يوازې هغه سر ته ئې د شلو کالو يؤ زلمے ناست وۀ.

ډيوې د شهباز پۀ غم کښې ژړل اؤ تتې رڼا د کوټې پۀ تيارۀ د غلبې موندو کوشش کولو.

د شهباز وچې شونډې پۀ رپېدو شوې اؤ ددې چُپ والی اثر د شهباز پۀ مرغيژن اواز کم شۀ.

"نصيره...!" اؤ بيا ئې د سترګو پۀ سيپو کښې دوه څاڅکی وځلېدل. د تېر وخت واقعات ئې پۀ سترګو کښې پۀ ګډېدو شول. د زوړ ياد برکے ئې د صبر دائرو نه راوويستۀ، خو سره ددې هغه ډاډه وۀ.

"هن باباجی" نصير ووې.



پښتو
ورلډ ټيم
pukhto.net

"بچیه! زما وخت راغے. د مرګ دیو مې پۀ مرۍ لاس ږدی.
زما وصیت د التجا پۀ دود واؤره. سره ددې چې ما ستا پالنه کښې
هیڅ کمے نۀ دے کړے خو زما نه یوه غلطی شوې ده چې هغه زۀ
تاته وئیلے نۀ شم. د وخت استازے به درته هر څۀ څرګند کړی. ولې
د هغې معافی زۀ د. اوسه غواړم. خبردار! ددې غلطۍ د معلومؤلو
کوشش به زما پۀ ژوندانۀ نۀ کوې اؤ هرکله چې درته معلومه شی
نو هېروې به ئې. تا واؤرېدل؟" شهباز ورته ووې.
"ما معاف کړے ئې باباجی" نصیر ووې "خدائې دې معاف
کړه" پۀ وئیلو خو دا الفاظ نصیر ووې خو د حېرانتیا پۀ چپو کښې
ډوب شۀ. اؤ ګورے تر کومه به ئې دا حال وۀ خو د شهباز مړغیژن
اواز د هغۀ پشتی شۀ.
شهباز ووے "بچیه! زما یوه خبره واؤره! د سالار مُتازی به
نۀ کوې. ما خپل عمر پۀ غلطۍ تېر کۀ خو تۀ ددغه کسب نه ځان
وساته اؤ... د غریبانانو خدمت ته ملاتړے اوسه"
د شهباز رپېدونکے لاس د بالخت لاندې لاړ اؤ لږ ساعت
پس اؤ بیا د نصیر پۀ غاړه کښې یؤ پړقنده شے پۀ نظر راغے.
دا د سرو زرو یؤ تعویذ وۀ.
"دا زما نښه ده" شهباز ووې "هر چرې چې دربانديې سخته
راغله نو وې ګوره. خو هسې درته اجازت نیشته"



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

"اوس.......... زما وخت پوره شۀ. نۀ زما منت پکار راځی اؤ نۀ ستا زاری. ژړا........ پر..... پړ.ده ............ک ......... لـه ......... وا ........... يــــه ............ ر ........... خ .........

صت !!"

شهباز يؤ دوه سلګۍ ووهلې. پۀ ډيوه يؤ پتنګ ستی شۀ. رڼا تته شوه اؤ د شهباز روح خاکی وجود پرېښودۀ.

..................

دې نه مخکښې نصير د خپل ژوند مدعا د غريبانو خدمت مقرر کړو. اؤ بس تر ډېره حده ئې دا مقصد پوره کۀ. خو مهر پرې هغه ولګېده چې ورسره ئې روح هم د خدمت سندرې راواخستې. (يعنې)

يوه ورځ پۀ څۀ کار نصير ځنګل کښې پېښ وۀ. ناڅاپه ئې شور تر غوږ شۀ. اؤ پۀ دې زوږ کښې د مظلوم فرياد د نصير زړۀ سينه کښې ناقلار کۀ. اؤ توره پۀ لاس ورغے.

څۀ ګورى چې سالار د خپلې ډلې يوه قافله راګېره کړې وه چې نۀ پرې د نرو زور غلبه مونده شوه اؤ نۀ پرې د ښځو اؤ ماشومانو فرياد غلبه کوی.

"خبردار" دا اواز وۀ چې د نصير د خُلې نه ووت اؤ سمدستی ورله جُخت د هغۀ پۀ عمر يؤ زلمے بهر راغے. وې وے "ځوانه تۀ څوک ئې چې د سالار زور نۀ منې؟"



پښتو
Pukhto.net

"زور خو د خدائې حق دے" نصير ووې "د ظالم به څۀ زور وی"

"اوس به زور ووينې" زلمی ووے.

دوه توري په هوا کښې په پړقا شوې او بيا په ترقا. د سالار نظر ناڅاپه په دوؤ پرېوت او د زلمی مدد له ئې رامنډې کړې. خو د سالار د رارسېدو نه مخکښې هغه په خاؤرو او وينو کښې ککړ پروت وۀ.

سالار توره بمبل کړه او سترې نصير ته دمه ګير راروان شۀ. نصير ګورے چې د هغۀ په سترګو کښې کوم پټ اثر وليد چې يؤ دم ئې لاس ونيوؤ. او وې وے:

"بوډا! نۀ پوهېږم چې تاله زما لاس ولې نۀ درځی"

خو د جواب نه مخکښې د بوډا توره د هغۀ په سينه کښې ښخه شوه.

کاش!!! دغه جذبې په بوډا هم اثر کړے وے.

بوډا د غرور او فخر په نظر هغۀ ته وکتل او يؤ درنګ کښې د غم او پرېشانی په لُومه کښې پړکه شۀ.

دا د دوئی خاندانی مهره ده خو د څۀ وېنا يا عمل نه مخکښې ئې تعويذ ته خيال شۀ. وې سپړدۀ. پکښې يؤ ليک راووت. ليک څۀ وۀ، د تباهی سامان، د هلاکت ذريعه، د مرګ استازے.



پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

"پهٔ نامهٔ د خدائې. خلق به زما دې فعل ته بد وائي. وائی دې. خو حق داد ے چې سالار ما سره خپله کړې ده. ایا ددهٔ سینه کښې زړهٔ وهٔ اؤ د بل سینه کښې ګته! چې د بل د خواهشاتو پهٔ مری ئې د خودغرضۍ چاړه لګؤل جائز ګڼل. ما ددهٔ نه بدل واخست. بېشکه دا غلطی وه خو ددې غلطۍ نهٔ کؤل هم غلطی ده. بیا هم زهٔ ګرم نهٔ یم. بچیه! ما پهٔ تا د خپل ځوئی مینه ماتؤله. تهٔ نصیر نهٔ ئې، بلکې د سالار ځوئی مراد ئې.

نیمه خوا شهباز"

د سالار د لاسه کاغذ پرېوت. د خُلې نه ئې چغه وختهٔ اؤ توره ئې پهٔ سینه کښې ښخه شوه. غلو رادؤ کړو خو تش وجود له. روح ئې مراد له تلے وهٔ.

د شهباز روح دغه درې وارو ته کتل. اؤ مُسکے مُسکے کېدو. دا دریم زلمے د شهباز ځوئی اکبر وهٔ.

غمونو ګټ راپسې وکهٔ
قلا د زړهٔ مې ماتوی، خندا ترې وړینه



پښتو
ورلډ بک
Pukhto.net

# نیمه خوا

د خلقو خُلې ځوک بندولے شی. ددې ریښتینې قصې په اوریدو به ډیر خلق زما دا صادقانه او پاک جذبات غیر فطری ګڼی.

د نر مینه نر سره، به ډیر په دې ویناً لا کم نه کم په خیال کولو مجبور وی. خو دې خبرې ته هم ښه خیال پکار دے چې مینه جنسی نوعیت پورې محدوده نه ده. اے! ډیر داسې نه دی چې د لیلیٰ د سترګو رڼا په ستورو کښې ګوری. د دلبر د جبین خط و خال په سپوږمۍ کښې لټوی. او د رخسار سُوروالے ئې په ګلانو کښې سهی کوی. دا خو پرېږده چې ځناور هم د وحدت د جلوو اثر په کثرت کښې موندل غواړی. کۀ نۀ ئې منځ نو ګل ته د بلبل په نظر وګورئ. د پتنګ د سوی د ډیوې په رڼا کښې ننداره وکړئ. د بیم د نغمو په رپا کښې د مار د تمنا رپا خوره ووینئ. دا هر څۀ د بنیادم د پاره عبرت نۀ دے. پس کۀ بنیادم د بل بنیادم سره مینه ولرله نو کومه ګناه ده؟ وشوه ګناه ده خو د هغه چا د پاره چې د شهوت او محبت په مبنځ کښې په ظاهره نرے خو په اصل کښې د لوئې پردې د حقیقت نه ناخبره وی. او دا خبرې د هغوئ د زړۀ په



پښتو ورلډ نیټ
ukhto.net

ستر کو کړلي دي. که نه ئې. هر کله چې محبت د خپلې درجې نه پربوځي نو د نر مینه ښځې سره د دوئی د ادبیت کالے دے.

هم د دغه ګناه په څنګ کښې په ښکاره ځائې ودرېږي مینه......... اصلي مینه...... د وجود د نوع، د مکان، د زمانې د قېده ازاده مرغۍ ده. یؤ ماوزے شے دے. تر دلبره محدوده نۀ ده. د حُسن د ګل وړمه اؤ حُسن عام دے. د لامکان د سبل پوړۍ ده. یؤ وجداني کېفیت دے.

اخر د قیصې اورېدو نه پس د هر چا خپله ایمانداري ده. زۀ خو به هغه وایم چې راباندې تېر شوي وي. دا مینه وه..... هو مینه.... خو د حُسن سره نۀ بلکې د رګولۍ کوشش وۀ. چې هغه د خپلوانو یؤ بل سره وي. د رضا اؤ خُوږولۍ اثر وۀ. اؤ دا شکل ئې اختیار کړے دے. چې نن زۀ د خلقو د اعتراضاتو نه بې پروا د زړۀ قطرې د هر خاص و عام په مخکښې د انصاف په کواړۀ دننه لکه تکۍ تومبم.

دا د هغه وخت قصه ده چې د زمانې د تود باد یوه چپه زما په څنګ کښې داسې انداز سره والوته چې زۀ د ارام په ځانګو کښې داسې د بې فکرۍ په خوب وبوږنېدم. د یؤ نالیدلی خوب تعبیر زۀ د یؤ هولناک دیو په شکل کښې په خپله پنجه کښې واخستم. اؤ لرې ورځې پس یؤ ناشنا ښار کښې د نصیب د لښکرو نه د مغرور په شان ګرځېدم. یعنې د کور د یؤ څو د....بورو په وجه

پښتو
pukhto.net

راته د سفر ضرورت پېښ شۀ خو تقدير زما پۀ ارادو پورې مُسکے مُسکے کېدۀ.

دومره مې ياد دی چې څۀ وخت ما پۀ کلی کښې د مجبورۍ اؤ پرېشانۍ د اثر لاندې د غم پۀ تېښن د بېلتون ټکټ اخستۀ نو زيات خفګان مې د خپل کشر ورور بشير پۀ جدايۍ وۀ.

هرکله چې هغه ما سره د يؤ څو کسو پۀ ملګرتيا کښې تر اډې پورې پۀ جلب راغے نو غلې څېرې ئې د پټو جذباتو ترجمانی کؤله.

پۀ هغې څۀ ليکلی وو. خو دغه وخت زۀ پۀ دې ليک نۀ پوهېدم. هغه غلے وۀ. بالکل غلے. خو د هغۀ د چُپ والی د سمندر پۀ غېږ کښې د فکرونو طوفانونه پراتۀ وو.

خو د کشر ورور سره خو مينه د هر چا وی. خو زما مينه خپل شان پخپله وۀ. اؤ دا د بشير د عمل جواب وۀ. يعنې د دې نه زياته مينه ما سره د هغۀ وه. دغسې دا دوه مئين زړونه د يؤ بله جدا شو. خو د پارو ونې چې مېوه ئې اکثر غم وی پۀ دواړو زړونو کښې خپلې پنجې ښخې کړې.

زۀ د خپل مقصد پړاؤ ته ورسېدم. هلته مې د مدعا پۀ حاصلؤلو کښې ډېر کم تکليف بيامونده ځکه چې د وطنيانو پته راخخه وه. نبغ ورله لاړم. زر تر زره مې روزګار بيامونده. د ښار بازارونه، د وطنيانو ګپ شپ، د روزګار لګېدل، ټول داسې



پښتو ورلډ پېج
Pukhto.net

سامان وۀ چې زر تر زره د کلی غم ددغه خوشحالی د سیند پۀ چپو کښې پۀ بهېدو شۀ.

خو د بشیر یاد وۀ چې ورځ تر ورځ بیا زیاتېدۀ اؤ د شپې به چې ځملاستم نو د هغۀ ساده ځېره د اخلاص اؤ مینې نه ډکې خبرې اؤ د عقلمندی اؤ سلیقې انداز، اؤ د قابلیت نقشه به مخکښې شوه. اؤ ډېر ځله مې د پستنه تلو اراده وکړه خو چې د کومې مجبوری لۀ کبله راغے وم هغه به مخې ته شپول شوه. اؤ اراده به مې د وسوسې د سیلی پۀ مخکښې لکه د خس والو ته.

دا حال تر ډېر وخته وۀ. تر دې ښه ده چې د شغل وخت به مې اکثر د بشیر پۀ یاد رنګین وۀ.

یوه ورځ بازار کښې د مندرسې نه روان وم چې یؤ هلک د مندرسې نه راووت. د ببرته نه مې د هغۀ پۀ لیدو داسې محسوسه کړه چې یوه هېره شوې واقعه مجسم شوې ده. یؤ خوب دے چې مادی شکل ئې اختیار کړے دے. دا ځکه چې دا هلک بیدو د بشیر پۀ شان وۀ. پۀ ونه، پۀ عمر، پۀ رنګ جوسه، پۀ کړۀ وړۀ. لنډه دا چې یؤ ځل دې ته جوړ شوم چې اواز ورکړم. اؤ دا کار به مې کړے هم وۀ کۀ چرې خپل ملګری د "شوکت" پۀ نامۀ بللے نۀ وے. زړۀ به مې د جذباتو نه ډک رباب شۀ خو نۀ پېژندګلو وه اؤ نۀ اشنائی —

پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

غلے پاتې شوم خو پته راته ولګېده چې د ښار د يؤ سېټهـ ځوئی د ے. اؤ دلته سبق وائی. ګورے چې ولې مې دې هلک سرهٔ د تعلق پېدا کېدو اراده پېدا شوه. خو زړهٔ لـه لارې دی. اخر هغه ورځ هم راغلـه چې د نااشنائی د پـړاؤ نـه ډېر زر د ورورولی. اؤ دوستی. منزل تـه ورسېده. د نمازيګر سېنما، ګپ شپ، زموږ د هرې ورځې شُغل شهٔ.

زهٔ د شپږو مياشتو دپاره پهٔ يؤ سرکاری کار بهر لاړمه. څوک خبر ووه چې دا پهٔ ظاهره وړه واقعه به زما د تېر اؤ راتلونکی ژوند پهٔ مېنځ کښې دومره لوئی بېلتون پېدا کړی. چې د خيال مارغهٔ به هم د هغې نه د تېرېدو پهٔ وخت کښې د يؤ زړهٔ سونی آه د اثر نه خپل وزر پهٔ ګرانه وساتلے شی. اؤ ډېر ځله به د اُمېدو بيم پهٔ پړقه کښې ونخښلی. آه! هغه نامراد وخت راغے اؤ ضرور راغے.

يعنې: شپږ مياشتې پس زهٔ خپل ځائې تـه واپس راغلم نو پهٔ هغه مازيګر مې شوکت "کمپنی باغ" کښې د لوبغاړو همزولو پهٔ ډله کښې وليد. چې زهٔ ئې تر نظر شوم نو پهٔ هغه خنده رويه خېره ئې ما سره سترې مشی وکړه. بيا ئې د جېبه کُنجيانې راوويستلې اؤ لوبو لـه روان شهٔ. خو د نيمې لارې نه راوګرځېد اؤ وې وے "اوه! تهٔ خو د بهره راغلے ئې. تېرے به ئې" زما د جواب د انتظار نـه بغېر لاړو اؤ لږ ساعت پس مې د سوډې د بوتلو دوکان مخې تـه وُليدهٔ.



پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

ملغلره ډکې وې. یا ........ دوه کالبوته وو چې په یو روح ژوندي وو.

د هغوئ نښه ما څخه څۀ ده. بس یۀ نۀ هېرېدونکے غم اؤ دا کُنجیانې. خو اے خلقه! په دې کُنجو زۀ د مقصد جرنده لرې کؤلے شم؟

هو.......... یوه جرنده شته دے. یعنې مرګ خو هغه هم د وخت په کُنجی لر کېږی..... آه.

کله کله زۀ د خیال په سترګو دوئی دواړه یؤ بل سره لاس تر غاړه وینم. چې د بېرته نه ماته اشاره کوی خو زما مادی سترګو ته دوئ نۀ ښکاری اؤ د لیدو ئې قابلې نۀ دی.



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

واخستل. چې کلي ته راورسېدم نو خپل خپلوان ټول "پخپر" له راغلۀ. لوئي، واړۀ، نر، ښځې، يار اشنا ټول مې وليدل.

خو بشير .......... نۀ وۀ.

اخر تپوس مې وکړو چې بشير چرته دے. ددې جواب زما د ترۀ پۀ خُلې يۀ سوړ اسوېلے وۀ اؤ بس.

ما ووې "کاکا خبر دے؟"

"بچيه!" کاکا ووې "هغه پۀ حق رسېدلے دے

اُف! دا اواز وۀ چې زما د تمنا پۀ مرئ ئې د غم چاړه ولګوله. دا اواز چې زما پۀ زړۀ د پلک ګذار وۀ، خو زۀ پائېدم. ددې غم پالېدو ته....

اؤ راتلم ددې اواز اؤرېدو ته.

د نور بحث نه معلومه شوه چې بشير پۀ هغه ورځ اؤ خواؤشا پۀ هغه وخت مړ دے کله چې ما شوکت مړ ليدلے وۀ.

اُف! زما د ټولو خوبونو دا تعبير وۀ. نه! دا زما د قسمت د راز تعبير وۀ.

اے روغه خلقه! تاسو دې ريښتينې قيصې له څۀ مناسبت پېدا کولے شئ. خو د روغو خلقو کار څۀ دے. دا د درمند زړۀ د خاوند نه واورئ.

دوه فانوسه وو. پۀ يۀ مشعله روښانه وو. دوه ګلونه وو چې د بونې پۀ پۀ يوه ورمه تازه وو. دوه سيپۍ وې چې پۀ يوه



پښتو ورلډ ويب
Pukhto.net

ملغلره ډکې وې. یا ....... دوه کالبوته وو چې په یو روح ژوندي وو.

د هغوئ نښه ما څخه څۀ ده. بس يؤ نۀ هېرېدونکے غم اؤ دا کُنجیانې. خو اے خلقه! په دې کُنجو زۀ د مقصد جرنده لرې کؤلے شم؟

هو.......... یوه جرنده شته دے. یعنې مرګ خو هغه هم د وخت په کُنجی لر کېږی..... آه.

کله کله زۀ د خیال په سترګو دوئی دواړه يؤ بل سره لاس تر غاړه وینم. چې د بېرته نه ماته اشاره کوی خو زما مادی سترګو ته دوئ نۀ ښکاری اؤ د لیدو ئې قابلې نۀ دی.

پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

# دا خلق

د عدالت د کوټې مخې ته د پَل کېښودو ځائې نيشته. د نندارچيانو اُوږې يؤ بل سره لګی. نن د علاقې د يؤ لوئی شاعر چې د خون دعویٰ ده پرې، وروستی پېشی ده. د خلقو د جَمعې د وجې دومره شور دے چې د پوليسو دب دباؤ پرې هم غلبه نۀ شی موندے. خو چې دوه کسه يؤ ځائې کېږی نو د خُس، پُس، د غُرغُر لا پۀ زوره پۀ دې خبره بحث کوی.

"دا عجيبه خبره ده"، "دے خو ډېر ځانله غوندې دے وغېره اوازونه دی. پۀ دې کښې چپه چُپی شی. اؤ پۀ چُپ والی کښې د ببرو اؤ هتکړو شرنګار واورېدے شو. د ټولو سترګې اؤ سرونه ناڅاپه د شور غاړې ته وګرځېدل.

خونی شاعر زورَند سر د سپاهيانو تر ميان راروان وۀ. د عدالت کوټې ته د ننوتو نه مخکښې ئې يؤ ځل د افسوس پۀ نظر خلقو ته وکاتۀ. بيا ئې غمګينه مُسکا د شونډو لاندې ښکاره شوه. لږ ساعت پس د قاضی مخې ته ولاړ وۀ.



پښتو
ورلډ ...
pukhto.net

قاضی یۀ درنګ وکیلانو اؤ جرګې سره خبرې اترې وکړې.
بیا ئې د قاتل نه تپوس وکړو چې نن ستا وروستنۍ پېشی ده. اوس هم وایه تۀ د خپلې صفایۍ ثبوت لرې؟
شاعر د خیالی خوبه وبوږنېدۀ. یۀ ځل ئې چاپېره وکاتۀ. بیا قاضی ته اؤ د مخکښې پۀ شان مهر پۀ خُلې زوړند سره ودرېدۀ. قاضی خپل سوال درې ځله سر دوباره کۀ. خو جواب ئې خاموشی ده......
اخر ئې ووې "جرم ثابت دے. د ورځې رڼا مرګ، د حضور شاهدان، دا هر څۀ قوی ثبوتونه دی اؤ قاتل د صفایۍ ثبوت هم نۀ لرۍ. دا چُپ والے د عدالت د انصاف پۀ لار کښې شپول کېدے نۀ شی."
بیا ئې قاتل ته مخ راوګرځوؤ اؤ وې وے "دا وروستے ځل دے چې زۀ ستا نه تپوس کوم. وایه کۀ څۀ وائې....؟"
ناڅاپه د شاعر پۀ شونډو د وېنا رپا پۀ ګډېدو شوه. اؤ شونډې ئې داسې د یۀ بله جدا شوې لکه چې جوړ زخم بیا خُلۀ وکړی. یا بنده غوټۍ د باد پۀ څپېړه ګرېوان څیرې کړی. د عدالت کوټه بیا یۀ ځل د چُپوالی کوهی ته پرېوتې معلومه شوه. اخر هغۀ پۀ داسې انداز سره چې د ډاډ اؤ غم ځلېښت پکښې معلومېدۀ ووے:



پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

زما دا وېنا سره ددې چې د عدالت د سوالونو پوره جواب دے. خو بیا هم د صفایی د ثبوت پهٔ غرض نهٔ دے. اؤ نهٔ زما ژوند ته څهٔ حاجت شته. زما ساه هغه وخت ختلې ده چې څهٔ وخت زهٔ د داسې قوم پهٔ لمن کښې پېدا شوم چې د هغوئ هوښيار هم د خاموشۍ نه د زړهٔ د کېفياتو اصليت معلوم نهٔ کړے شو. زما د زړهٔ پهٔ شيشه د پَلک ګذار هغه وخت شوے دے چې ما د حق پهٔ مرتي. تېره چاړه د هغه کسانو نه لګولې ليدلې ده چې ځان ته د حق څوکيداران وائي. زهٔ ددې درغلې دُنيا د ژونده پهٔ مرګ ډېر رضا يم. خو يؤ ارمان به مې پهٔ غاړه داغ شي. اؤ هغه دا چې زما د سترګو د پټېدو سره د يوې پېغلې جينۍ د عزت اؤ د يؤ ماشوم د سر وېره ده. سره ددې چې د حق پهٔ خاطر د سر ځار کؤلو تمنا پهٔ مړ وجود کښې نوے ژوند پېدا کوي خو زهٔ پوهه يم چې زما وينې د ظالم د وهلو سامان دے اؤ زما اسويلي د مظلوم د ژوند ډيوې له پوکي دي...... کهٔ اوس هم زما ددې وېنا نه عدالت د خپلو سوالونو جواب نهٔ وي موندلے نو پوهې ته ئې د نظرماتي دپاره زما روح لوګے شه. پس زهٔ دا وايم چې زما سزا دې پهٔ سزا وي. خو د مقدمې پهٔ حقله دې کوشش جاري وساتلے شي."

د ښار د حاکم پهٔ څېره د زړهٔ جذبات د رنګونو پهٔ جامه کښې زغلېدل. اخر ئې سر پهٔ دواړه لاسه ونيوؤ. يؤ درنګ سرګومه ناست وهٔ. بيا د ګنت ايستو نه بغېر د کوټې نه بهر ووت. پهٔ

پښتو ورلډ نېټ



pukhto.net

حاضرینو د مړو غونډې چپه پېي وه اؤ اخر پېشی بلې ورځې ته شوه.

.............

د کلي قبلې سر ته یؤ کور کښې تته رڼا ده. دا د مقتول کور دے. دلته په کوټه کښې دننه یوه پېغله جینۍ اؤ یؤ بریتو سړے مخ په مخ ناست دي. په دربم کټ کښې یؤ ماشوم د ډیوې رڼا ته په بې نګرانۍ لوبې کوي اؤ په ملاستې د شغلو د نیوؤ دپاره موټې غورځوي.
پاتې شو کړے اؤ ښځه. نو د جینۍ په څېره د نااُمېدۍ اؤ د غم جال خور دے. اؤ د سړي په سترګو کښې د کاسیرتوب اثر...
دا ددې کوټې ټول بندیان دي. اخر بریتو سړي ووې:
"وګوره! دا چُپ والے زما په ارادو کښې کمے نۀ شي راوستے. دا مکر ما نۀ شي اړؤلے. تۀ خبر ئې چې په ما ستا په جدائۍ کښې څۀ تېرېږي؟ ما خپل تربور، ستا خاوند د جائېداد دپاره د خپلې مخې نۀ دے لرې کړے بلکې ددې دپاره چې ستا مینې لېونے کړے ووم"
ښځه: زۀ داسې مینه اور پسې کوم چې هغه سړے دومره لېونے کړي چې د خودغرضۍ چاړه په لاس کښې د مظلومانو غوښې خوري"



پښتو
pukhto.net

سړے: (په جوش کښې) "ګوره لېونۍ کېږه مه! ته خبر ئې چې زما لاس کښې نن څومره طاقت شته. زه د خپلې لارې نه اغزی په اسانه لرې کولے شم. هغه اخون (شاعر) چې ستا په سر ولاړ وه... خبر ئې؟ په جېل کښې مې درله وتومبه او د نغمتې مُلاګوټې نه خبر شوے یم چې ددې قصې نه خبر دے. خو د هغه هم خبر اخلم نو واوره! ستا عزت، ستا جائېداد، دا هر څه زما په لاس کښې دی. او ته هم زما د رېم مُتازه ئې.

ښځه: "جائېداد دې اور پسې شی. زه به خپل بچی سره سر سپینوم خو د بې عزتۍ داغ په لمنه لګول نه غواړم....."

سړے چې د زنانه د فطرت نه خبر معلومېده په غصه پاڅېده، توره ئې وویسته او وې وے: "ښه ده، دا اسره درله هم خورؤم. ماشوم په کټ ملاست لوبې کولې، بریتو ته ئې وخندل او لاس ئې ورپسې غورزؤل خو ددې ظالم په زړه کښې هیڅ ترس رانغے.

جینۍ کریکه کړه. سترګې ئې په دواړه لاسه پټې کړې... په درز سره تنبې لرې شوې او د بریتو سړی لاس چا مضبوط په هوا کښې کلک ونیو. بریتو دا د زنانه کار وګڼه. په غصه کښې ئې لاس وواهه خو چې خلاص نه شو نو روستو ئې وکاته. سړے ورته ولاړ دے.



پښتو
ورلډ بک
Pukhto.net

بریتو: «د حېرانۍ اؤ غصې ګډوډ حالت کښې» تۀ څوک ئې اؤ کار دې څۀ دے چې بې تپوسه زما د تېروالې کور ته راغلې؟

پرده پوښ: بې شکه زۀ بېګانه یم خو ستا د خپلوانو دپاره ستا نه زیاته غداري مې زړۀ کښې شته. منم! زۀ بې تپوسه راغلے یم خو زما دا غلطي نۀ کوَل دوؤ بې ګناوؤ د سر وېره وه".

بریتو: "ښه ده اوس به ستا مړانه هم معلومه شي"

پرده پوښ ددې خبرې دپاره د وخته تیار وۀ. اخر دوه تُورې پۀ کوټه کښې پۀ پړقا شوې. زنانه به د مینې پۀ نظر کښې کله خپل بچي ته اؤ کله د وېرې نه دوئی دواړو ته کاتۀ.

پرده پوښ ډېر پۀ ډاډه زړۀ جنګېدۀ. اؤ بریتو پۀ غصه اؤ جوشې کښې. د هغۀ د جوش نتیجه دا وه چې دوه درې پېرې د پرده پوښ د تُورې د لاندې راغے. خو هغۀ به بچ کوؤ. معلومېده داسې چې ژوند ے ئې نیول غواړي. اخر پۀ خپل مقصد کښې کامیابه شۀ. د لس وارو نه پس ئې د هغۀ توره قابو کړه. بیا ئې تونړۍ له دوه درې ګذاره ورکړل. بریتو اؤ زنانه یؤ بل ته د حیرت پۀ نظر کتل. فرق دومره وۀ چې د زنانه زړۀ د اُمېد پۀ خلیبښت ډاډه وۀ اؤ د بریتو زړۀ کښې د نامعلومه وېرې احساس. پۀ دې کښې درې کسه سپاهیان دننه راغلل. د بریتو لاس ئې وروستو وتړل. ټول غلي بهر ووتۀ. دا هر څۀ د یؤ تن دپاره د خندا اؤ لوبو سامان وۀ. اؤ دا د شپږو میاشتو ماشوم وۀ.

..........

پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

د جومات د کوټې نه د هو حق اوازونه راتلل. معلومېږي څوک په خدائې مئين د ارام وخت (شپه) هم د خپل خالق په ياد و کښې تېروي. دا حالت ناڅاپه په بدل شکل شۀ.

يعنې.... د ذکر په ځائې په کوټګۍ کښې دا خبرې شروع شوې. يو سړے هغه پرده پوښ دے او بل مُلا نعمت الله.

پرده پوښ: ګوره مُلا صېب! تۀ يو نېک او پرهېزګار سړے ئې. خو د يوې خبرې تپوس درنه کوم. ددې خبرې کولو خو ضرورت نيشته چې ريښتيا به وائې ځکه چې ستا غوندې سړي نه هم دغه اُمېد کېدے شي... نو د فضل د مرګ په حقله تا ته څۀ پته شته؟

مُلا صېب: ..........

پرده پوښ: ګوره د خدائې پاک د رضا کولو يوازې شوګيرې کول نۀ شي کېدے. ستا په اؤ، نه د ګناهګار او بې ګناه پته لګي. نو کۀ ستا چُپ والے د بې ګناه د مرګ او ګناهګار د بچ کېدو سامان شي نو خدائې له به څۀ جواب ورکوې؟ مُلا صېب خپل سر اوچت کړو او وې وے:

مُلا صېب: روره زۀ نۀ يم خبر چې تۀ دوست ئې او کۀ دښمن؟ خو ستا ددې خبرو د وجې زۀ صرف دغه وايم چې "زوره ور وړ دے او کمزورے وړ شوے پړ... بس نور مې مۀ چېړه."

پرده پوښ ورته يو درنګ پس په غور کښې څۀ ووې او بيا بهر ووت. د جومات کوټه يو ځل بيا د هو حق اواز سره اشنا شوه.



پښتو
ورلډ نيټ
pukhto.net

یۀ ځل بیا د عدالت کوټه کښې شاعر ولاړ دے. یۀ خوا ترې د کلي خان کوزې سترګې په نظر راځي او بل خوا غریب مُلا په خان باندې د ګواه په حیثیت حاضر دے.

قاضي (ګواه ته): ما ستا بیان واورېدۀ. تۀ وائې چې دا مرګ خان کړے دے او روميے ملزم بې ګناه دے.

ګواه: حضور! زما د سترګو وړاندې خبره ده. په دې خپلو ګناهګارو مې هر څۀ لیدلي دي چې بیان مې کړل.

قاضي: نو تۀ تراوسه ولې غلے وې؟

ګواه: کۀ زۀ غلے نۀ وے پاتې شوے نو نن به زۀ هم بېړۍ په پښو د پانسۍ حکم اورېدو ته ولاړ وم. یا به زما په مرګ بل بې ګناه...

قاضي: یعني عدالت ظلم کوی؟

ګواه: د عدالت د انصاف ثبوت خو موجود دے. خو بیا هم عدالت ظلم نۀ کوی بلکې خلق ترې انصاف پټوی.

قاضي: منم! چې تا سره دا وېره ده، خو نن تۀ څنګه داسې ښکاره وېنا کوې؟

ګواه: د ضمیر د اواز ترجماني او د حقِ اظهار سره د امان په ډاډ کړم.

قاضي: تا ډاډ اوس کوم ځائې بیاموندۀ؟

ګواه: د ښار د حاکم د سوري لاندې.



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

قاضي (خان ته): ته څه وئيل غواړې؟

خان: حضور! بس دغه چې دا هر څه رښتيا دي، ما د خپلو کړو سزا ومونده.

(بيا خلقو ته): رونړو! زۀ د نفس په لاس کښې يو بادي پنډوس وم چې ټوپونه مې وهل. خو پۀ دې نۀ پوهېدم چې د تباهۍ کړنګ مې د پښو لاندې دے. اخر درته پرېوتم. زما د خوشحالۍ خندا د غم د وريځې بربښنا ده. زما د خوشحالۍ د شرابو پۀ جام کښې د مظلوم د اوښکو مالګينې اوبۀ وڅڅېدې او دا د يو لوئي نيز سامان شۀ. هغه پړق چې ما د مقصد رڼا ګڼله د تباهۍ تندر وۀ. اوس زۀ د قضا هر حکم ته غاړه نيسم. کاش!!! زما د ملامتيا اوښکې زما د ګناه د داغ د پاکۍ سامان شوے.

خو، نه! دا صرف د ناړه غنچې لره تېزاب دي...

خان يو درنګ غلے شو. بيا ئې ووې: زۀ د حکم اورېدو پۀ انتظار يم.

قاضي: ملزم خپل جرم پخپله مني. او د ښار حاکم سره د بل ګواه قوي ثبوتونه پوره کړېدي. پۀ هغۀ د عدالت نظر وړاندې دے. رومبے ملزم پۀ عزت سره بري دے او اصل مجرم ته د پانسۍ حکم اوروم.



پښتو ورلډ ویب
pukhto.net

سپاهيان د شاعر د پښو نه بېړې وباسي. چُپ چاپ د عدالت د کوټې نه بهر وځي. په خبره ئې ساهو چُپ والے لوبې کوي.

خان هم هغه کوټه کښې بنديوان شي کومه کښې چې شاعر وۀ.

په دربمه ورځ چې د خان مات ځټ په تخته سم شۀ يۀ ماهيٓ مار په جال کښې مړ شاعر د دريابه راايستلے راوړۀ اوٓ د دوارو جنازه يوٓ ځائې وشوه.



پښتو
ورلډ نیټ
Pukhto.net

# د اُمیدونو جنازه

"هلکه! یو ځل مې درته ووے چې ما څخه نور ځائې نیشته. نو څه کنه مخ پناه که. ځله مې د کاره وباسې؟"

انور تراوسه غلے ولاړ وۀ اؤ د اُمېد اؤ تراريې ځلېښت ئې په زړۀ کښې وۀ. جوړ د ارمانونو په ارمان ئې تندر ولوېدۀ. د اُمېدونو د ځانګو نه د غم اؤ د نااُمېدی ګړنګ ته ولوېدۀ. غلے بهر ووت. چې څۀ منځ لاړ نو د حسرت په نظر ئې د تمنا اؤ ارمانونو مقتل ته وکتل. اؤ يو ځل بيا د فکر په چپو کښې په لامبو شۀ. فرق دومره وۀ چې ددې جواب نه اول هغه د مقصد د کشتۍ تټ غوندې تصوير د غمونو په چپو کښې ليدۀ. اؤ اوس د تباهۍ دولۍ کښې لکه کنکے چورلېدۀ.

اخر د ټانګې والا د "بچ شه، بچ شه" اواز سره هغۀ د خپل ويخ شان لۀ خوبه ولوېدۀ اؤ لاړ روان شۀ.

انور د غريب مور پلار ځوئې وۀ. پلار ئې په خپله ډېره غريبۍ کښې پرې تر دولسمه سبق ووے خو د هغۀ د حق رسېدو نه پس انور په سبق پرېښودو مجبور شو. يو بوډۍ مور ئې ده چې اوس د هغې خدمت بار پکار وۀ چې انور په خپلو اوږو اخستے



پښتو
ورلډ نیټ
pukhto.net

وے. خو ځنګه؟ نۀ خو ئې جائيداد وۀ اؤ نۀ د روزګار سمے. د نوکرۍ نه خو د وخته د هغۀ زړۀ موړ وۀ. خو ورکه دې شي غريبي. آه!!!

دا غريبي د خودداري پۀ شيشه د پلک ګذار دے. د غيرت پۀ تُوره د پخوالي زنګ دے. اؤ د هُنر ګل لره د هاړ تود باد. اخر انور دې کار ته غاړه کيښوده. يؤ ځل ئې پۀ اخبار کښې پۀ يؤ دفتر کښې د لسو دولسو کسو د ضرورت اشتهار ولوست. مور سره ئې صلاح وکړه اؤ د لارې د خرچ دپاره ئې د ګاونډيانو نه لس روپۍ قرض واخستې. لاړ روان شۀ.

څومره امېدونه وو چې انور ددغه دفتر نه لرل. دلته ورته د هيډ کلرک نه حال معلوم شۀ چې تراوسه د پنځو کسانو ځائې خالي دے. دا خبره هغۀ د خپل قسمت نېک فال وګڼله خو نيتجه ئې "آه".

نتيجه ئې صرف ناکامي وخته. دا ځکه چې ددې درغلې زمانې د مخلوق دپاره خانداني شرافت اؤ ذاتي قابليت هيڅ شے نۀ دے. د دوئ پۀ نظر کښې کۀ لوئې شے دے نو هغه صرف سفارش اؤ خانداني دولت دے. بېشکه ړومبي دواړه څيزونه دا نور وو. سندونه ئې د قابليت ائينې وې خو ددې پۀ شا د سفارش زنګار نۀ وۀ. دغه شے د هغۀ د ناکامۍ غټه وجه وه.

پښتو
pukhto.net

خېر! خو د فکرونو او خیالاتو په مخکښې لکه خس روان وه. تر ماښام ئې لس میله لار پیاده ووهله. کلی ته ئې د نیمې نه زیات مزل پاتې وه. د نزدې کلی د جومات په کوټه کښې نمر سملاست. تشه ګېډه، د غمونو زیاتے، د مجبورئ احساس. دا هر څهٔ د هغهٔ د خوب دپاره داسې وو لکه حباب له سیلی.

چې کهٔ مور مې زما ددې ناکامئ نه خبره شی نو څهٔ حال به ئې شی. د قرض د خلاصؤلو به څهٔ بنا کېږی.

دا خیالات وو چې د وړوُکو پېریانو پشان د جومات په توره کوټه کښې د هغهٔ نه چاپېره ګرځېدل. بیا ئې خیال راغے چې منشی خو د پنځو کسانو د ضرورت په حقله وئیلی وو. کېدے شی چې نن د افسر طبیعت خراب وهٔ او سبا سم وی. خېر زهٔ به بیا ورشم او د هغهٔ د رحم د جذبې د ویښؤلو کوشش به وکړم. ځان به ورته کلک کړم. کېدے شی چې کار مې وشی.

انور تر ډېره وخته په خیال کښې افسر سره خبرې وکړې. هغه به داسې وائی، زهٔ به داسې ووایم. زهٔ به ورته ووایم چې د خدائې اسره مې سفارش دے او ستا د رحم اُمېد لهٔ نیمې لارې نه پستنه راوګرځؤلم.

چې سحر شهٔ نو زړهٔ ئې په بېګانی اُمېد ډاډه وهٔ. توکل په خدائې بیا روان شهٔ. کچه غرمه، په خُولو کښې لوند خښت، سُور مخ، ستړے ستومانه د دفتر مخکښې بیا ولاړ وهٔ.



پښتو ورلډ
pukhto.net

اردلی ورته بره بره وکاتهٔ. ځکه چې د هغهٔ د زړو جامو او
بد حال نه د اردلی د جېب ګرمېدو اُمېد نهٔ وهٔ.

انور تر ډېره وخته د هغهٔ د برغدو سترګو زغم ونکړے شهٔ.
یؤ ځل ئې ځان جوړ کړ چې د افسر سره د ملاقات د اجازت دپاره
ورته ووائی خو دننه نه د افسر اواز د هغهٔ په دې کلک والی داسې
اثر وکړهٔ چې لکه پهٔ واوره اور...

دننه افسر یؤ سړی سره خبرې کؤلې چې "خان ستا هلک
لسم پاس دے خو خپر دے نور بابوګان به ورسره امداد وکړی. تهٔ
زړهٔ ښکته پورته کوه مهٔ".

دا الفاظ د انور دپاره د نوی اُمېد سامان وو. او پهٔ خیال
کښې ئې د افسر دغسې نرۍ خبرې خپل ځان سره هم وګڼلې. بیا
ئې خیال شهٔ چې "کهٔ زما پهٔ لیدو ئې بد وګڼل نو زهٔ به ورته ووایم
چې ستا د رحم اُمېد..."

پهٔ دې کښې افسر بهر راووت او موټر ته وخوت. دومره
وخت کښې د انور زړهٔ هم تر څهٔ حده پهٔ ځائې شهٔ. موټر ته وړاندې
شهٔ. سلام ئې وکړو. افسر د سلام د جواب نه بغېر دهٔ ته وکتل او
وې وے:

"هلکه تهٔ خو ډېر بې حیا ئې نو...."

د انور سر کښې چکر پېدا شهٔ او د خپلې سوچ کړې فقرې
د وېنا نه بغېر ئې د ځان د بچ کولو دپاره موټر سره سر ولګوؤ.



پښتو
ورلډ
Pukhto.net

"لر شبه د موټر نه" اؤ ددې وېنا سره موټر روان شۀ. انور پړمخې راپرېوت اؤ د موټر روستے پَل ئې پۀ سر راغے. افسر موټر ودروۀ اؤ د همدردۍ د افسوس پۀ ځائې ئې دا ووې

"څۀ بې سره مخلوق دے"

انور د يؤ شريف سړى پۀ غېږ کښې سترګې نيمې وغړولې افسر ته ئې وکتل اؤ پۀ ګرانه ئې دا الفاظ ووې:

"ستا ..... د .... ر..... حم ........ ام..... ے ...... زۀ .....

بيا.....پس..... را.... وګرز.... و... ل .... م ......."

ددې جواب افسر چې هر څه ورکړو خو انور يؤ دوه سلګۍ ووهلې. ظالم افسر د همدرۍ دوه ټکى د خُلې وويستل خو انور ددې خبرو نه بې پروا د غمونو د قېده ازاد شوے وۀ.



پښتو
ورځ پاڼه
pukhto.net

# ارماني

د اور شغلې درنګ پۀ درنګ زیاتېدې. د دې پړق د وارخطا بندیانو پۀ څېرو د حسرتناک اؤ هېبت ناک منظر سامان وو. ټول خلق د اور پۀ وژلو کښې اخته وو.

"اوبۀ راوړه"، "دا ځائې وکنه"، "شابسې" وغېره اوازونو د بندیانو د تادی ثبوت وو. ددې اوازونو نه جدا اواز چې کله کله دې شور کښې اورېدے شۀ اؤ زیات اثرناک وۀ، د یو نیم زالې ښځې وۀ. پۀ ژړا کښې ئې وے: "یه خلقه! د خدائې دپاره زما لور بچ کړئ"

هرکله ددې جواب به ئې چې د خلقو پۀ څېرو غمژن چُپ والے ولید نو لا به ئې چغې کړې. اور لا، لا زیاتېدۀ. د خلقو ټول کوششونه بې ځایه معلومېدۀ. د زنانه چغې د مخلوق پۀ زړنو د تېغ ګذار وۀ.

پۀ دې کښې یؤ زلمے د غشی غوندې پۀ شغلو کښې د ګېرې کوټې نه بهر راووت. د هغۀ پۀ غېږ کښې بې هوشه پېغله جینۍ وه. زلمی د غولی منځ کښې پۀ قلاره کېښوده. مور پرې



پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

راوغورېده. يؤ څل ئې د شکر پۀ نظر زلمي ته وکاتۀ. زلمي پۀ سهوې څېره اؤ د ويښتو لاس راښکل اؤ بې هوشه پرېوت.

اور مړ شو. د بې ښوده پېغلې جينۍ اؤ زلمي د بانډې د دستور مطابق علاج شروع شۀ.

درې ورځې پس د کور مالک کريم شاه چې پۀ څۀ کار بهر تلے وۀ، سوے لوغړن کور ته واپس راغے. خو ددې مالي تاوان د زخم ملهم ئې د خپلې لور د بچ کېدو خيال وۀ. دېره کښې ورسره درې کسان ناست دي. پۀ سترګو سترګو کښې يؤ بل ته څۀ وائي.

پۀ دې کسانو کښې يؤ مشر سړے دے چې نوم ئې سيدنواز دے اؤ بل د هغۀ ځوئ فضلے.

سيدنواز د خپل ځوئ دپاره کريم شاه سره د دوستۍ پۀ طمع دے. اؤ ځان ورته نزدې نزدې کوي. پۀ هر څۀ پوهه کريم شاه ورته نن سبا کوي. خو زړۀ ئې نۀ دے. خېر... نو سيد نواز ووے:

سيد نواز: روره کريم شاه! ستا پۀ تاوان ډېر خفه يو. خېر مال د سړي د لاس ښيرے دے بيا به راشي. خو ستا پۀ عزت مند ژوند کښې دا داغ هم ډېر دے اؤ دا شے ستا عزيزان نۀ شي ليدے.

کريم شاه: (پۀ حېرانتيا سره) سيد نوازه! لا د څۀ داغ؟

سيد نواز: بد مۀ ګڼه. زما مطلب دادے چې شريف کوم کار کړے دے دا د يؤ پښتون دپاره لويه خبره ده.



پښتو
ورلډ ډاټ کام
Pukhto.net

کریم شاه: ولې بس هغهٔ خو دومره قدر له کار کړے دے چې زما د لور د پاره ئې د سره ذانګلی دی. نور خو څهٔ داسې خبره د هغهٔ په حقله زهٔ نهٔ وینم.

سید نواز: بېشکه! هغه به په خپل سمی ښهٔ کړی وی اؤ په ښهٔ نیت به ئې کړی وی خو اول خو بغېر د څهٔ وجې نه دومره کار هیڅوک نهٔ کوی اؤ بله دا چې اخر غېږ کښې خو ئې نیولې ده.

فضلے: دادا! دا څهٔ وائې؟ دا خو څهٔ خبره نهٔ ده. شریفی ماته پخپله وئیلی دی چې زهٔ په پردېس کښې د کریم شاه کاکا لور ته عمر تېرؤم.

کریم شاه: خبردار! تاسو د حده تېروځئ. ستاسو دا مطلب دے چې شریفی هم د ښځو څرمن په مخ اچولے وے اؤ زما لور ئې ستا د دې بې سره خبرو نه د بچ کېدو د پاره د لمبو دعوت کړے وے.....

زهٔ اخور کښې نهٔ خورم. په هر څهٔ پوهه یم. غرضی په ختهه اور لګوی. په ځائې د دې چې ما سره غمرازی وکړئ، زما په زخم مالګې دوړوئ. زما په عزت حملې کوئ.

سید انور: کریم شاه! ستا دلته خواوشا شل کاله کېږی چې راغلے ئې. زمونږ په مرسته شته شولې. دلې دې عزت اؤ دولت بیاموند. عزیزولی کښې تر دې حده شریک شوې چې نن د کلی مشران ستا په لمن معمولی غوندې داغ لیدل نهٔ غواړی. واوره! دا



پښتو
pukhto.net

د لستوني مار د مخې لرې که. او که نه ته دا سرکوزي کوې نو ښه به درله نه وي.

کريم شاه: زه ستاسو نېکي منم. ستا ټولې خبرې په ځائې دي. خو د خپل عزت خواږه نه دي. شريفے درې کاله راسې ما سره شريکتي دے. ما پکښې هيڅ تيارة نه ده ليدلې. د هغه په حقله څه وئيل زما په لور تور پورې کول دي او که زره کښې دې څه وي نو لاس دې ازاد.

د فضلي خبره د غصې نه تکه سره شوه. جيب ته ئې لاس کړو. په دې کښې تمبې چا په ګرب لرې کړې. د تمانچې ډز شو او د ډز سره د کريم شاه او فضلي په منځ کښې يو زلمے په مزکه پرېوته. دا زلمے شريف خان وو. دا هر څه دومره زر وشو چې د حاضرو خلقو غصه په حېرانتيا بدله شوه او چې کريم شاه په سود شو نو ډيوډۍ خوشې پرته وه. په مزکه ژوبل شريف خان پروت وو او بس.

..............

په بله ورځ د کلي په طبيب د علاج پامته دار شريف خان، کريم شاه کره پروت دے. سر ته ئې کريم شاه ناست دے. د شريفي د رغېدو طمع پېدا شوې ده. خو شريف خان پخپله په ځان پوهه دے چې.....

خبر! يو درنګ پس ئې سترګې وغړولې. کريم شاه ته ئې وکتل او وې وے "کاکا، څه ته ارام وکړه"



پښتو
ورلډ نېټ
pukhto.net

کریم شاه: "بچیه! زما ارام خو پهٔ ما دې درغلې دُنیا اور کړے دے. ما خو توبه ایستې ده خو خېر! اوس به ګورو. تا دې خدائې جوړ کړی. نو د دوئ د قصده درله خپله لور درکوم"

ګورے چې ولې د شریفی پهٔ زړهٔ کښې درزهار شهٔ.

بېشکه! دوه کاله مخکښې چې د کریم شاه لور لا پهٔ ستر نهٔ وه، دهٔ لیدلې وه. پس د هغې نه ئې د لیدو ډېره تلوسه وه. خو پهٔ هغه خیال نهٔ، کوم چې د کریم شاه وۀ. لا ددې نه زیات ناکاره چې د فضلی وۀ. اخر ئې رو غوندې ووې:

شریف خان: "کاکا! زما پهٔ وجه ستا عزت پهٔ وېره کښې شهٔ. عزیزولی دې خرابه شوه. اول خو زما د رغېدو څهٔ اُمېد نیشته اؤ کهٔ خدائې روغ کړم نو.... کتے به شی"

کریم شاه: "وار مهٔ خطا کوه خدائې به دې جوړ کړی"

شریف خان: "کاکا، زما مرګ ته وار نهٔ دے خطا. هغه بل سوے دے چې زما درد سپوا کوی.... دا ارمان به مې پهٔ زړهٔ پاتې شی خدایه!"

کریم شاه: "بچیه! ستا بدله به هیچرې پرې نږدم. کریم شاه دومره بې غېرته نهٔ دے"

شریف خان: "نه کاکا، دا غم د بدل نهٔ دے. دا جدا شے دے. د خبرو ځائې راباندې نیشته. خو خېر خپل وس به کوم. واوره!



پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

کریم شاه د هغهٔ د درد د اورېدو دومره خواهشمند شهٔ چې د هغهٔ د زخم د خرابېدو خیال ئې هم هېر شهٔ. غوږ ئې کېښود.
شریف خان: کاکا! زما ارمان داد ے چې خپل پلار مې ونهٔ لیدهٔ. دا عجیبه قیصه ده. وائې وره. پلار خو مې هډو لیدلے نهٔ وهٔ. هن! مور مې ده. اؤ اوس هم شته. دې به زهٔ پهٔ ناز ناز لویولم. محنت مزدوری به ئې کؤله اؤ زهٔ بې غمه بې دردہ اوسېدم. د اتؤ کالو پهٔ عمر کښې ئې مدرسې ته ولېږلم. خو، د مور نازولے ځوئی وم. دا کار رانه پوره نهٔ شو. اخر تشو لوبو ته وزګار شوم. یوه ورځ مې خپل یؤ همزولی سره خبرې تاؤ کړې. هغهٔ راته د ټسه ووې "مړه اول خو دې د خپل پلار پته ولګوه چې تهٔ د چا ځوئے ئې"
د سره مې لمبه وخته. نېغ مور له لاړم. تپوس مې ترېنه وکړو. ریښتیا وایه، زما پلار څوک د ے. مور مې یؤ درنګ زما د قلارؤلو کوشش وکړو خو چې ونهٔ شوه نو وې وے:
"بچیه! ستا پلار شته. خو ستا د پېدا کېدو نه مخکښې چرته ورک شو ے د ے. د هغه قصه داده چې د وادهٔ نه یوه میاشت نیمه پس پهٔ یوه ډمه مئین شهٔ. ټول مال دولت ئې د هغې د سره ځار کړو. هره شپه به د شرابو پهٔ نشه مست، کله نیمه شپه اؤ کله چرګ بانګ راتلو. اؤ کهٔ ما به کش کوؤ نو درز به وهٔ راباندې. د ناوېتوب وخت مې وهٔ. د شرمه مې غږ نهٔ کوؤ. د پلار دې مخه خپله وه. اخر ټول جائېداد ئې دوره کهٔ اؤ د پولی پړق ته کښېناست. اؤ هغه

پښتو ورلډ
Pukhto.net

دوستان چې د چا د برکته هغه ځائې ته رسېدلے وۀ د سپرلی مچان وو، د هار د چپو نۀ وو. ټول ترې پۀ شا شو. ډمې پۀ دې کونځلو کښې نور تېل بیا نۀ موندۀ نو سپک ئې رارخصت کړو. اوس د هغۀ سترګې وغړېدې. ما ورله خپل دوه درې کالی چې د هغۀ د چپو نه بچ شوی وو ورکړۀ اؤ معامله ئې پرې روانه کړه.

اوس هغه بالکل نېک سړے شۀ. خو د بدل اخستو خیال د هغۀ زړۀ کښې لکه دُوک تُوغېدل. اخر هغه وخت راغے چې دغه اور د لمبې شکل کښې بدل شۀ اؤ دغه لمبې زمونږ د اُمېدونو پۀ خونه اور ولګؤلو.

یوه ورځ زمونږ پۀ کلی کښې ښادی وه. دغه ډمه پکښې ګډېده. پلار دې هم ننداری له لاړ. خو چې ئې ولیده نو اور پرې بل شۀ. دا هغه ډمه وه چې د هغې پۀ یؤ نظر به ئې د سرومال ځار کوۀ. اؤ نن د هغې د وینو تږے وۀ. بله ورځ ورته د مېنځ لارې کښې یوه کنده کښې کښېناست. چې ټانګه ددۀ خوا له راورسېده نو ورله بهر راووت. ډمو خپلو سازیانو ته ووې چې "دا هغه اکبرے نۀ دے".

پلار دې ورله اواز ورکړو چې "هو، دا هغه اکبرې دے چې تراوسه اکبر خان وۀ" اؤ بیا ډز، ډز ډمه ئې سره د سازیانو وویشته. لاړ مفرور (مخرور) شۀ.

کریم شاه: څوک؟ څوک؟ اکبر خان؟

پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

شریف خان: اؤ اکبر خان! ولې دومره حېران شوې؟

کریم شاه: هسې دا سړے ما چرته لیدلے دے. خېر تهٔ قصه کوه. معلومه به شي چې کوم اکبرخان دے.

شریف خان د شونډو لاندې زبېرګے وکړو. کټ کښې ایله غونډې وخوزېدو. اؤ وې وے: "نو بس زما قیصه خلاصه ده".

"زهٔ د هغه ساعته د کوره راووتم. د غېرې علاقې کلی په کلی د خپل پلار پهٔ لټون کښې ګرځېدم. ما پهٔ یؤ کلی کښې د لس، اتو ورځو نه زیاتې نهٔ دی تېرې کړې. ګورے! چې ولې مې دلته دېره ونښلوله. خو چې جوړ شم، نو ستا نه به رخصت اخلم"

کریم شاه په ځیر ځیر شریف خان ته وکتل. دپاسه پرې راوغورځېدهٔ اؤ وې وے:

"بچیه! زما دا زړهٔ وهٔ چې د فضل نه به بدل اخلم، دا تمانچه د هغهٔ پهٔ سینه د تشېدو وه... خو اوس ...... (د شونډو لاندې) بچیه! آه..." پهٔ دې کښې ډز شهٔ. کریم خان پهٔ مزکه ولوېدهٔ.

شریف خان د خپل زخم اؤ درد نه بې پروا د کټه راودانګل. د زخم نه ئې وینه روانه شوه اؤ پړمخې راپرېوت.

کریم شاه: بچیه ستا بدنصیبه پلار زهٔ یم.... هم زهٔ یم. ما ستا پهٔ مور اؤ پهٔ پلار ډېر ظلم کړے دے. زهٔ تاسو سره سترګې نهٔ شم لګولے. بس مدعا دې سر شوه. خپل پلار دې ولیدهٔ. خدائې



پښتو
ورلډ نیټ
Pukhto.net

ئی ........ وا .... ث ..... ے .... د ..... ت ..... با ........ دې ......
زړ ....... ه ......... کړ ........... ه ........"

شریف خان: دادا، دادا! ..." خو ددې جواب د کریم شاه بې ساه ژبې هیڅ ورنهٔ کړو. د کریم شاه ټبر د ډز پهٔ اواز رادؤ کهٔ. خو د را رسېدو نه مخکښې ئې بل ډز واؤرېدو.

نو ارباتیا ئې پهٔ غم اؤ وېره بدله شوه. دوه مړی پهٔ کوټه کښې پراتهٔ وو.



پښتو
pukhto.net

# تنکۍ مینه

د باران شپه وه. د پرنالو شړهار. د ځاځکو شور او د سیلۍ شرهار د جادوګر د منتر په شان د خوب استازي خوږول. کله ناکله به د اسمان نه دې ګړزهار څۀ قدرې ددې اثر کم کړو..... د ژمي شپه وه. د حجرې کشران ټول په بړستنو کښې ننوتي وو. د قبلې ګټ نه ناڅاپه اواز شۀ.

"یره قیصه پکار ده"

او بیا دوه، درې اوازونه به په هیر دغسې واوریدے شو.

"هو قیصه خامخا پکار ده" خو څوک به ووائی. "هلکه رحمان شاه تا خو به د مدرسې په کتابونو کښې څۀ لوستي وي. ستا قیصه به..... خامخا د مطلب وي" یو نیم زالی سړی ووے. او شاید چې ددې حجرې مشر هم وۀ. رحمان شاه د بړستنې نه مخ ایله شان بهر کړو او وې وے:

"رسول کاکا قیصه د مشرانو د خُلې خوند کوي" او یو ځل بیا د باران شور د څو اوازونو د زور لمن کښې پټ شۀ. ټولو ووے "رسول کاکا دې ووائی"

"ښه ده!" رسول کاکا غاړه تازه کړه. "کومه به ښه وي؟"



پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

ګُلې ووې "د ګل صنوبر" بل تن ووې "نه يره، د محبوبې قيصه وکړه"

رحمان شاه ورله د ګُتمه اواز وركړو "سړو دا څۀ پۀ زړو شخوند کوئ. رسول کاکا نوې مطلبي قيصه وکړه"

رسول کاکا ووې "ښه ده هلکه ګُليه! تۀ دهقان شوې هڼ هڼ کوه"

"ښه" ګُلې ووې.

رسول کاکا غاړه تازه کړه او پۀ عجيبه انداز سره ئې قيصه شروع کړه.

"يو باچا وۀ. د هغۀ تا سره خدائې ښۀ وکړه دوه زامن وو. دوه..."

"ښه" ګُلې ووې.

"نو داسې چل وشو..." رسول کاکا ووې.

"کورې مرداره..." ناڅاپه د هغۀ د خُلې نه وښاتۀ. څکه چې ورله څۀ شي تپله ورکړه. خو پۀ دې کښې ور وډبېدو. نو د حُجرې بنديان پوهه شول چې سپے نۀ دے. "هلکه ګُليه ور لر کړه څوک دی" رسول کاکا ووې.

ګُلے پۀ ناخوالې د تودې برستنې نه پاڅېد او ور ئې لرې کۀ. يو سړے رانوت. بالکل ناشنا سړے وۀ چې جامې ئې لوندې خوشتې وې او د يخنۍ نه شوشکېدۀ.

پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

"څوک دے؟" رسول کاکا د حکم پخولو پۀ انداز سره ووے.

ناشنا سړی اول پۀ ستانه اؤ بیا پۀ کټونو سرسری نظر وغورزؤ اؤ بیا ئې ووے: "مېلمه یم. د شپې ځائې به وشی؟"

رسول کاکا د هغۀ غمژنې خبرې ته چې د بارانۀ خاخکی پرې داسې ښکاربدل لکه پۀ مړاوې پاڼه د منی پرخه، وکاتۀ اؤ پۀ رسېدونکی نظر ئې داسې معلومه کړه چې د نژدې کلی خاندانی سړے دے.

........ هغۀ له ئې د جواب موندو انتظار زحمت ورنکړو اؤ وې وے "روره! حجره د مېلمنو ځائې دے. دا د پښتو وطن دے. راځه کښېنه"

رسول اکا ورله خپله شړۍ اؤ قمیص ورکړو. ګُلی پۀ بُوټ وربوز د مېلمه جامې نچوړوَل شروع کړل. مېلمه ته ئې کټ سم کړو. چیلم ئې پرې وڅکوؤ اؤ زر تر زره د مېلمه ډوډۍ سره ګډون راغے...... پۀ یؤ کټ کښې کشرانو یؤ بل سره خُس پُس کؤل چې د هغوی قیصه نیمګړې پاتې شوه خو چې د مېلمه د خدمت نه وزګار شو نو د قصې ذکر بیا شروع شۀ.

رسول اکا چې د مېلمه د حال زده کؤلو پۀ تلوسه وۀ اؤ ورسره ورسره د کشرانو د زړۀ خیال ئې هم ساتۀ حېران شۀ. اخر ئې ووے:



پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

"تاسو خو زما قيصه هره ورځ اورئ. که خوښه مو وي نو مېلمه به قيصه وکړي" ټول په دې رضا شو.
مېلمه چې د دوئ په مطلب پوهه شو نو د خپل شوی قدر په وجه ئې انکار کؤل مناسب ونۀ ګڼل. اؤ وې وے "ښه ده. د ليدو پوره ريښتنې قيصه درته کؤم". کشران غلي شو. مېلمه قيصه شروع کړه.
"زۀ د ښار نه څۀ منځ بهرته .د نوم ...... ئې کلي اوسېدونکے يم اؤ په يؤ سرکاري دفتر کښې کار کؤم. يوه ورځ راباندې ناوخته شۀ. کلي کښې مې ضروري کار وۀ اخر پياده روان شوم. په نيمه لار کښې راباندې ماسخوتن شۀ. دغه وخت زۀ په يؤ ګور بڼ کښې روان وم. د مرګ غوندې چپه چپي وه. لوئې لغړې ونې د تبرې په جادو. د وېرؤنکو دېوانو په څېر ښکارېدې. ددې چُپ والي په سينه به کله کله ګونګي د خپل هېبتناک اواز په وسله ګذار وکړو. لا به د منی ژپل پانه د کَړ اواز د فرياد په دود معلومېده. اؤ بس د وړزې نادرې ګُوره وريځ وه. يؤ نيم څاڅکے به د اولې هم پرېوتۀ.
په دې حال کښې زۀ د خپل پړاؤ په لور ددې هر څۀ نه ډېر بې پرواه روان وم چې ناڅاپه مې د زېبرګې اواز تر غوږ شۀ. د وېرې اؤ رحم ګډوډ احساس مې زړۀ کښې پېدا شۀ.
اخر د رحم اثر غلبه بيامونده اؤ دې څيز زما زړۀ تر ډېره حده ډاډه کړ. اواز غاړې ته روان شوم. ناڅاپه مې په څۀ څيز ټکره



پښتو ورلډ نیټ
pukhto.net

ووهله. د اسمان بربښنا کښې مې يؤ سړے تر نظره شۀ چې د تنډې نه ئې ويني رواني وې. اؤ نيم بې سوده پروت وۀ. دوه درې اوازونه مې ورله وزکړۀ. خو پوهه شوم چې د پاڅېدو نۀ دے. د انساني مجبورۍ ژوندۍ نقشه ئې پۀ تته رڼا کښې زما تر نظره وړاندې ده. د سړيتوب وينې مې رګونو کښې موجونه وهل راواخستۀ. خو نۀ خوا کښې ابادي وه اؤ نۀ بل سړے وۀ چې کلي ته ئې راسره رسؤلے وے.

اريان ودرېدم. پۀ دې کښې مې د سويل اړخ نه رڼا سهي کړه. دا رڼا د اُمېد پړق وۀ. ژوبل زلمے مې پۀ اوږه واخست. روان شوم... لږ ساعت پس دغه ځائې ته ورسېدم. دا د غرۀ لمن کښې يوه جونګړه ده اؤ قطب ته ئې د لوګی دپاره سورے پرېښے وۀ. هم ددغه نه رڼا ښکارېده. د غر اؤ ددې جونګړې ننداره داسې معلومېده لکه د يدو پۀ ښپو کښې تته ډيوه پرته وی. يا دنګ لوړ پير پۀ خپل چوکړی مريد د برکت لاس پورته کړی وی.

خېر جونګړه بالکل خالي وه. اؤ د خاموشۍ د اثر لاندې وه. هن! د سوزېدونکو لرګو تک تک ددې چپ والي اثر تر ډېره حده کموۀ. پۀ دوان لرګی پراتۀ وو. داسې معلومېده لکه چې اوس ترېنه څوک پاڅېدلی وی. خو کوم خوا؟

ددې خبرې د معلومؤلو وخت نۀ وۀ. ځکه چې زما نظر د ژوبل زلمی دپاره د ځائې پۀ لټون کښې اخته وۀ. خېر هغه مې پۀ

پښتو
ورلډ بک
Pukhto.net

وښو يۀ خوا ته څملوۀ. ددې هر څۀ نه پس مې چې شاته وکاتۀ نو يۀ زوړ کيند زوړند وۀ چې دا جونګړه ئې پۀ دوۀ حصو کښې تقسيم کړې وه.

لږ ساعت پس زلمی سترګې وغړولې. پۀ سور شۀ اؤ چارچاپېره ئې پۀ حېرانتيا سره وکاتۀ. ما ورله تسلی ورکړه چې زړۀ ښکته پورته کوه مۀ...

بيا مې ورته ټوله قيصه وکړه چې دغسې تۀ پۀ بڼ کښې بې سوده پروت وې. وغېره وغېره.

هغۀ يۀ سوړ اسويلے وکړو اؤ وې وے "افسوس! زما مطلب سر نۀ شۀ. زۀ لا تراوسه ژوندے يم خدايه"

ما ورله تسلی ورکړه. سره ددې چې هغه ساه صورت شوے نۀ وۀ. خو د هغۀ د حال زده کولو تلوسه مې زړۀ کښې دومره وه چې اخر مې ترې تپوس وکړو.

"روره! پۀ تا څۀ تکليف دے ما پوهه کړه. کۀ لاس مې رسی نو خدمت ته اؤ منډو ترړو ته تيار يم"

"ځوانه!" زلمی ووے "تاله دې ددې اجر خدائې درکړی چې زما دپاره دې دومره کړاؤ وکړو. سره ددې چې د غم پۀ ذکر لا غم زياتېږی خو بيا هم ستا زړۀ ساتل پکار دی. نو واوره:

زما نوم نوروز دے. پۀ کلی کښې هسې خو مې ياران وستان ډېر دی خو يۀ ولی ګل نومې د وړوکوالی نه زما دوست



پښتو
Pukhto.net

دے. داسې چې پۀ يو تالی خوراک څښاک، ناسته پاسته، عزيزولی هر څۀ يؤ وو. پۀ ټول عمر کښې زمونږ د يؤ بله د خُلې ګيله هم نۀ وه. زمونږ ډېر کم کارونه د يؤ بل نه پټ وو. خو يوه خبره ترېنه ما ډېره پټه وساتله اؤ هغه داده چې د کلی يوې جينۍ سره زما مينه وه، اؤ د هغې ما سره. د وخت پۀ مرسته مونږ د ملاقات موقعې هم کله کله موندلې خو زمونږ ټولې خبرې به د وفادارۍ تر لوظونو پورې وې اؤ بس.

وخت تېرېدۀ خو دا حال سره د ارادو ما ولی ګل ته ښکاره نۀ کړو. ګورے چې ولې؟

د ولی ګل د کوژدنې سمے جوړ شۀ. دا شے زما د خوشحالۍ سامان وۀ. خو ددې خوشحالۍ پۀ ائينه کښې مې د غم او انديښنو ديو تر نظره شۀ. ځکه چې د هغۀ کوژدن زما د سترګو تور اؤ د ژوند د مدعا يعنې معشوقې سره جوړه شوه. دوه ورځې مخکښې ولی ګل پۀ دې کار ډېره خوشحالی ظاهره کړه. ورسره ورسره ئې ددغه جينۍ د خپل پټ محبت بيان هم وکړو. زۀ عجيبه راګېر وم. خو يؤ خوا د مينې د دوست رضا اؤ بل خوا د خپلې تمنا پۀ مرۍ چاړه لګول. خېر خو خپله خوشحالی مې د دوست پۀ خاطر د قربانولو نيت وکړو. کوژدن وشوه. يؤ کال تېر شۀ.

يوه ورځ مې زړۀ تنګ شۀ. ماسخوتن د ټولو نه پۀ پټه هغه ځائې ته لاړم چې د چا د حسين ملاقاتونو يادګار وۀ. د سپوږمۍ



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

رڼا کښې هر خوا زاړۀ يادونه په ګډېدو شو. د ولې شړهار راته د چا د پازېبو شرهار معلومېدۀ. ستورو زما په حال پورې خندل. په سترګو سترګو کښې ئې يؤ بل ته څۀ وے. څومره چې د صبر د ماليارۍ په ډاډ ما د مستقبل په ونه کښې د رنګين ماضي ياد قلمونه لګؤل دومره پرې د غمونو اؤ ناکامۍ وريځ ګلۍ ورؤله. نن زما زړۀ بيا لکه د پتنګ زاړۀ اورونه غوښتل. خو د مقصد ډيوه د تيارو د فانوس په لمن کښې زمانې داسې نغښتې وه چې دا خواهش د خواهش لۀ حده ونۀ وتے شۀ.

زمونږ د رومبۍ ملاقات ځائې چې هلته مې د خپلې رنګينې دنيا بنياد ايښودے وۀ نن هغه زما د حسرتونو مقبره ده. آه...

اوشوه! دا وخت هم زما خلوت زما د زوړ حسين ياد په مرسته رنګين وۀ. خونۀ د أسوېلو لړه کښې رایاد داسې ځلېدۀ لکه د ګورې وريځې مخکښې په شليدلې لمن کښې ستورے. دا اوښکو ائينه کښې د مينې عکس داسې ځلېدۀ لکه د پرښې په څاڅکو کښې نيم ښکاره ګل. خبر خو دغه وخت زما زړۀ د پرېشانه خيالاتو په پنجه کښې ګېر وۀ. لږې ورځې پس د ولې ګل وادۀ وۀ. ددې وجې مستقبل راته داسې معلومېدۀ لکه د افق په څوکه د اُميد ستورے خو بالکل د نااُمېدۍ وريځ کښې پټ.



پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

لنډه دا چې ما د وادۀ ورځ پۀ خپلو سترګو نۀ شوه لیدې. ځکه چې پۀ زړۀ مې اعتبار نۀ وۀ. دا وه زما د خوبونو دُنیا اؤ د ژوند خوب چې تعبیر ئې زما د ژوند مدغم دے. د هغه وخته د کلی نه راروک شوم. دوه درې میاشتې پس چې فکر مې تر څۀ حده بدل شۀ نو بیا لاړم. هر څوک وو خو ولی ګل سره د تېره روک وۀ. زما د زړۀ نازکه ښیښه چې د مینې پۀ تاوونو توده وه د اسمان ددې سردمهرۍ پۀ ځاځکی تق وچاودۀ. بس یؤ ځل بیا مسافر شوم. د هغوئ دواړو پۀ تلاش کلی پۀ کلی ګرځېدم. نن مې صبر تمام شۀ نو دې بڼ کښې مې ځان پۀ تمانچه وویشت. خو افسوس لا می پۀ نصیب کښې د ژوند غم شته. نو........"

پۀ دې زوړند کیند پۀ رپېدو شۀ اؤ زما د خیال ائینه کښې ددې جونګړې د فقیر نالیدلې څېره وګرځېده خو مونږ پۀ خپله حېرانتیا پۀ ګرانه قابو بیاموندۀ. هرکله چې د پردې شاته یوه پېغله جینۍ راښکاره شوه.

"څوک! تۀ! تۀ!! شازادګۍ؟؟؟؟"

د زلمی د خُلې نه وښاتۀ. "دا تۀ چرته" سره د ترغاړه وتو د ارادې پۀ خیال ناست پاتې شۀ. د خوشحالۍ یؤ دوه اوښکې ئې پۀ سترګو کښې وځلېدې. دوئ دواړو یؤ بل ته کتل اؤ ما دواړو ته. داسې معلومېده چې دوئ دواړه د یؤ زړۀ راښکونکې نندارې کارکوونکی وو اؤ زۀ د هغې ننداړچی. خبر خو جینۍ ووے چې:



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

"ستا قيصه خو ما د کينډ د شا نه ټوله واورېده اؤ زۀ څکه نۀ راتلم چې ستا مېلمه ستا د قيصې اؤرېدو پۀ تلوسه وۀ. کېدے شوه چې زما د وجې دې تړې څۀ پټ ساتلے وے.... نو واوره چې مونږ هم تا پسې ګرځېدو. منم چې ستا دوست ولي ګل چې اوس زما رور دے پۀ ځائې دوست دے.

"څۀ؟ رور! دادې څۀ ووے؟" زلمی ووے.

پېغلې ووے "هو، رور! تلوار مۀ کوه حال درته وايم. د وادۀ پۀ ورځ اؤ دوه درې ورځې روستو ولي ګل ستا د ورکېدو د غمه ډېر پرېشانه وۀ. اخر خدائې خبر دے چې چا ورته ستا اؤ زما د مينې حالونه وئيلي وو. خو دے ماله راغے اؤ وې وے "کۀ زۀ ستا اؤ د هغۀ د تعلق نه د وخته خبر وے نو ما به دا غلطي نۀ وے کړے" زما زړۀ ودرزېدو. رنګ مې زېړ شۀ اؤ توکانې مې خُلې کښې وچ شو. خو هغۀ راله تسلي راکړه اؤ وې وے چې زما د خدائې دپاره خور ئې. بس د هغه وخته دواړه تا پسې ګرځو".

"ولي ګل چرته دے؟...." زلمی ووے.

ناڅاپه د کينډ د شانه يؤ زلمے فقير راښکاره شۀ. اول هغۀ سره تر غاړه وت اؤ بيا ئې ماله لاس راکړۀ. فقير پۀ ولاړې ووے:

"شکر دے خدايه! زما مدعا پوره شوه خو دومره افسوس دے چې تا ماته د مخکښې نه حال وئيلے وے. خو خبر دا خدائې ته منظوره وه. خپل امانت دې واخله".

پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

بیا پېغلې په جوش کښې ووې "ما چې کوم خوند د رورولۍ او خوروولۍ په مینه کښې لیدلے دے هغه د ډېرو نه ډېر دے. بس زه د یو په ځائې د دوؤ ورونو خور یم. او......"

فقیر په تېزۍ سره بهر ووته. په شا ئې وکاته. مُسکے شه. په نوراني مخ ئې د خوشحالۍ نُور وځلېده. بیا لاړ پناه شه. په دې کښې کریکه شوه. زمونږ زړونه بې کوره شول. بَل لرګی مو لاسو کښې واخستل. په دَو دَو بهر ورغلو. څه ګورو چې ولی ګل په مزکه پرغزی پروت دے. مونږ ورله تلی مښل شروع کړه چې همدغسې کریکه د جینۍ د خُلې نه وختنه او راپرېوته. او د پښو د لاندې ئې تور ښامار په پرشار جارې ته ننوت. د دواړو د نبض کتو نه پس مې ووے "دواړه مړه دی".

خو ددې جواب د ژوبل زلمی د طرفه په برق برق خندا وه. ډېر قهر راغے. خو دا قهر مې په نوی غم بدل شه. هر کله چې د هغه خندا بې واکه شوه. دا د لېونتوب نخښه وه. بیا ئې په یو مخ دؤ که. زما ټول اوازونه بې اثره ثابت شو. دواړه مړی مې جونګړې ته یوړل. بله ورځ مې ورله هم د هغه جونګړې په خوا کښې د ګور کفن انتظام وکړو.

کله کله د دغه ځایه شغلې خېژی او د برق برق خندا هم اورېدے شی. خلق وائی چې وخت ناوخت د دغه قبرونو په خوا کښې یو لېونے ښکاره کېږی.

پښتو ورلډ ویب
pukhto.net

# واردات

دا نظم پهٔ ۱۹۲۴ ء کښې مرحوم پهٔ یونیورسټی کښې د یوې عامې مشاعرې پهٔ موقعه اورؤلے وۀ. مونږ لوستونکو ته دا هم ښایو چې مرحوم پهٔ اردو ژبه کښې څنګ ماهر وۀ. خو دا بېله خبره ده چې د اُردو هغه ذخیره دا ساعت محفوظ نهٔ ده. افسوس!

بامِ گردوں سے نئے غم کا پیام آیا ہے
یا اُفق پر سے بگولوں کا سلام آیا ہے

زندگی پھر سے نئے موڑ پہ لہرائی ہے
قاصدِ ماتم نوبن کے صبا آئی ہے

گیسوئے ہستی تاریک ہے چھاجاتا ہے
ناگ بن بن کے میرے سینے پہ لہراتا ہے

کیف بر دوش فضاؤں میں یہ ماتم کا سماں
زمزمہ ریز ہوائیں ہوئیں سرگرمِ فغاں

ظلمتیں ہوگئیں بیدار طرب خانوں میں
خونِ حسرت ہے چھلکتے ہوئے پیمانوں میں

سازِ پُر سوز مِرے قلب حزیں کے ٹوٹے
ساتھ دینے بھی نہ پائے تھے کہ ساتھی چھوٹے



پښتو
ورلډ ویب
pukhto.net

سوزشِ دردِ نہاں گرمیٔ گفتار ہوئی
موجِ خوابیدہ طوفاں تھی بیدار ہوئی

آہ یہ جوشِ جنونِ سوزِ دروں خوابِ سکون
قلبِ محزوں کی ہر اُمید ہوئی خوار و زبون

زیست ناکردہ گناہوں کی سزا دیتی ہے
آہ بھی آتشِ فرقت کو ہوا دیتی ہے

اِک افق ہے کہ ہے تابندہ درخشندہ ابھی
تیری جوئندہ نگاہیں نہیں جوئندہ ابھی

فکرِ یک لخت سے بس فاش ہوئے رازِ تمام
قلزمِ زیست کی تفسیر ہے موجوں کا خرام

ہر گھڑی اُن کو روانی کے پیام آتے ہیں
گو کہ ساحل سے بھی ہر لحظہ سلام آتے ہیں

منبعِ علم یہ کالج کی خرد خیز فضا
میری رگ رگ میں بسی ہے یہ طربناک ہوا

ہم تو رخصت ہیں مگر اور بھی آئیں گے ابھی
سینکڑوں تارے افق پر ترے چمکیں گے ابھی



پښتو
ورلډ ویب
Pukhto.net

کرنیں پھوٹیں بھی تو تشہیر چراغاں ہے یہی
بُو ہو آوارہ تو بس شہرتِ بستاں ہے یہی
باغبانانِ چمن تم کو مبارک یہ چمن
ہاں ضیاپوش ہوں اس فیض سے سب کوہ و دمن
آج یہ ذرّے ہیں بیتاب سیماب لئے
اور سینوں میں ضیا پاشئ مہتاب لئے
دوریٔ قرب کے آلام لئے جاتے ہیں
ایک احساسِ خوش انجام لئے جاتے ہیں
کئی افسانوں کے عنواں ہیں کہ باقی ہیں ابھی
سینکڑوں درد کے درماں ہیں کہ باقی ہیں ابھی
ظلمتیں آپ کے کاشانوں سے ٹکرائینگی
آشنا نُور سے ہوجائیں گی چھٹ جائیں گی

تمّت بالخیر

پښتو
ورلډ ټيم
pukhto.net